ورځپاڼه
# هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا | دتاسيس کال ۱۳۲۸ لمريز | چهارشنبه دربيع الثاني ۱۷مه ۱٤٤٥ق کال | د لړم ۱۰ مه ۱٤۰۲ ل کال | د نوامبر لومړۍ ۲۰۲۳م کال | خصوصي ګڼه ۱٦٤ مه | پرله پسې ګڼه ۲٥٤ مه، اتمه دوره

## د افغان مهاجرينو په اړه اعلاميه

له تيرو پنځه څلويښتو کلونو را په دې خوا افغانان د اشغالونو او جګړو له امله په مختلفو هېوادونو کې له مهاجرت او خورا ډيرو مشکلاتو سره مخ دي، ياد حالت پر افغانانو تپل شوی او زموږ ملت ورته مجبوره کړل شوی و.اوس چې افغان مهاجرين له بيلابيلو ستونزو او اجباري اخراج سره مخامخ شوي؛ نو لاندې څو ټکې مهم او اړين بولو.

۱ـــ له ټولـو هغـو هيوادونو څخه لومړی منته کوو چې په تيرو څه باندې څلويښتو کلونو کې يې افغانانو ته په خپلو هيوادونو کې ځای ورکړ، اوس يو ځل بيا ترې غواړو افغانان مجبور نکړي، چې په زور او بې له آماده ګيو څخه جبرا اخـــراج شي؛ بلکې وخت ورکـــړي او اړوند هيوادونه د حســـن همجواری، اســـلامي اخوت او بشري عاطفي له مخې لـــه تحمل څخه کار واخلي.

۲ـ په کومو هيوادونو کې چې افغانان مېشت دي، د هغو هېوادونو امنيت ته يې ستونزه نه ده ايجاد کړې او نه هم په بې ثباتيو کې لاس لري.

۳ـ له ګاونډيو هيوادونو څخه غواړو چې د اســلامي اخوت اصل ته په پام سره له افغان مهاجرينو سره ښه چلند وکړي.

٤ـــ له کومـــو هيوادونـــو څخه چې افغانـــان د اجباري اخـــراج په نتيجه کې بيرته خپل هيواد ته راســـتنيږي، د هغوی مالونه، پيسې او نور ملکيتونه يې شـــخصي مـــال او د دوی حق دی، هيڅـــوک دا حق نه لري چې ورڅخه ويـــې ګرځـــوي او يـــا پـــه دې اړوند غيرعادلانه او نـــا انصافه شرائط پرې وضع کړي.

٥ ـ هغه افغانان چې له نورو هېوادونو څخـــه د وروســـتيو مشـــکلاتو او د ځينـــو هېوادونو د دريځونـــو له امله مجبوريږي؛ تر څو وطن ته راشي، بايد ټول افغانان، خصوصا زموږ سرمايه دار او تاجران ورونه، ټول۷مخ

# له تورخم څخه د رياست الوزراء په کچه د لوړ رتبه پلاوي کتنه

دافغانســـتان د اســـلامي امارت د رياســـت الوزراء اداري مرستيال او د مهاجرينـــو ســـتونزو تـــه د رســـيدو دعالي کميســـيون مشر مولوي عبد السلام حنفي پرون د يو لوړ رتبه هيئت په مشرۍ، چې په ترکيب کې يې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرســـت ملا خيرالـــله خيرخواه، د مهاجرينو او بيرتـــه راســـتنيدونکو چارو وزارت سرپرســـت الحاج خليل الرحمان حقاني او د ماليې وزارت مرستيال مولوي عبدالقدير احمد شـــامل دي، په ننګرهار ولايت کـــې فرضي کرښـــې تـــه څيرمه تورخم ښـــارګوټي ته سفر وکړ او هلته يې له افغـــان مهاجرينو سره، چې د پاکستان حکومت د ټولو نورمونو، حسن همجوارۍ او بـــشري عاطفـــي خـــلاف په اجبـــاري ډول اخـــراج کـــړي، لـــه نـــږدې وکتـــل او د هغوی د وضعيت ارزونه يې وکړه.حنفي هغوی ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت بـــه د خپلـــو امکاناتو په محدوده کې تاسي ته اســـانتياوې



او ښه خدمات وړاندي کوي.او مهاجرينو ورونو او خويندو ته يې د لا ډيـــرو خدماتو د عرضه کولـــو او د تســـهيلاتو برابرولو په هـــدف د ننګرهار ولايت له والي ملا محمد نعيم اخند، ځايي مســـئولينو او د مهاجرينو چارو له تنظيموونکو سره هم تفصيلي مجالس ترسره کړل.محترم حنفي اړوندو مســـئولينو ته په عاجله توګـــه د دوو موقتي کمپونو (يو کمپ تورخم ښارګوټي ته نږدې او يو بـــل د لعلپورې ولســـوالۍ په ډکه ســـيمه کـــې ) د جوړولو هدايت ورکړ او اړوند مسئولين يـــې موظـــف کړل، تـــر څو په يادو کمپونو کې د خيمو، اوبو، خـــوراک، اعاشـــې، روغتيـــا او ټولـــو لومړنيـــو اړتيـــاوود پوره کولو ترتيبات و نيسي.همدارنګه د ترانســـپورت اوهوايـــي چلند وزارت سرپرســـت او د انتقـــال کميټې مشر محترم ملا حميدالله اخنـــدزاده او د ملي دفاع وزارت د تحرکاتو لواء قومندان ملا بسم الله اخند هم همدا اوس په سيمه کـــې دي، تر څو هر څه ژر ټول هغـــه مهاجرين چې لـــه عبوري ګذرګاه سره نـــږدې په انتظارګاه کې ميشـــت دي، يـــادو کمپونو تـــه را انتقـــال کړي.دغـــه راز د اطلاعاتـــو او فرهنـــګ وزارت سرپرست او د اطلاعاتو او عامه پوهـــاوي کميټې مشر محترم ملا خير الله خيرخواه هم د رســـنيو او مطبوعاتو له مسئولينو سره د اطلاعاتو او عامه پوهاوي په اړه مجلس وکـــړ او د عامه پوهاوي پر اهميـــت په ټينـــګار سره يې وويل چـــې په دې برخه کې بايد کوټلي ګامونه واخيســـتل شي، تر څو په حوصله مندۍ او په ښـــه ډول سره د مهاجرينو د اجباري اخراج دغه بحران ۷مخ

## اروپايي ټولنې د هرات زلزله ځپلو سره د ۹۲ ټنو اړينو توکو مرسته وکړه

اروپايي ټولنـــې ويلي، چې وړمه ورځ دهرات له زلزله ځپلو سره دمرســـتې په موخه يوه الوتکه، چې ۹۲ ټنه اړين توکي پکې بار وو هرات ته رســـېدلې ده. دغې ټولنې زياتـــه کړې، چې دوی په دوبۍ کې له خپلو ذخايرو څخه ۵۷ ټنه اړيـــن توکي، چې کمپلې او نور ژمني توکي پکې شـــامل دي، دغه ولايت ته اســـتولي دي. دغـــه راز له دې مرســـتې ۲۰ ټنه درمل دروغتيا نړيوال سازمان او ۱۵ ټنه خوراکـــي توکي دخوړو نړيوال پروګـــرام ته هم ورکړل شـــوي. ټاکل شـــوې چې ددغو مرســـتو دويمـــه او دريېمه الوتنه په نږدې راتلونکـــي کې هرات او کابـــل تـــه وشي. ديادونې وړ ده ،چـــې اروپايـــي ټولنې تر دې مخکې دهرات لـــه زلزله ځپلو سره دمرستې لپاره دوه اعشاريه پنځـــه ميليونه يـــورو ځانګړې کـــړې وې، چـــې لـــه دې سره داروپايي ټولنې دمرســـتو ټوليز ارزښـــت څلور اعشـــاريه پنځه ميليونه يورو ته رسېږي.

## ازبيکستان کې د افغاني محصولاتو نندارتون پرانيستل کېږي




دصنعت او ســـوداګرۍ وزارت ويلي، چې دافغانستان دمحصولاتو دصادراتو دودې او بازارموندنـــې پـــه موخه په نـــږدې راتلونکي کې په ازبيکســـتان کې دافغاني توکو نندارتون پرانيســـتل شي. ددغـــه وزارت دچارواکو په وينا، له ازبيکســـتاني پـــلاوي سره په خبرو کې دهيوادســـوداګرو ته دآســـانتياوو دبرابرېدو په هکله هوکړه شـــوې ده. اخـــوا، دازبيکســـتان دلومـــړي وزير مرستيال جمشـــېدخواجه يوف وايي: له افغانستانه دغه هيوادته دصادراتو په زياتوالي کې هم همکاري کوي. له دې مخکې، دصنعت او سوداګرۍ وزارت ويلي و، هڅه کوي چې دافغانستان او ازبيکستان ترمنځ دسوداګريزې راکړې ورکـــړې ارزښـــت په کال کـــې درې ميلياردو ډالرو ته ورسوي.

## د کوچنيو تشبثاتو د پياوړتيا لپاره د جوازونو وېش پيلېږي

دافغانســـتان بانک سرپرست کابل کـــې دوړو پورونو پـــه غونډه کې ويـــلي، چـــې هيوادکـــې دکوچنيو تشـــبثاتو ســـکتور مهم دي، ځکه دکوچنيو متشبثينو دملاتړ ترڅنګ هيوادکـــې دبې‌وزلۍ کمولو کې هم لويه مرســـته کوي. نومـــوړي ويلي ،چـــې هيوادکې دکوچنيو تشـــبثاتو دپياوړتيـــا لپـــاره دجوازونـــو وېش پيلـــوي او ديادســـکتور دپانګـــو دخونديتـــوب لپـــاره ديـــو حمايوي صندوق دجوړولو پـــر طرحه کار روان دی.

## پنج بند بزرگ آب در غزنی بازسازی می‌شود

پنج بند بزرگ آب، در غزنی بازسازی می‌شـــود. برنامه‌های،پروژه‌هـــای بازســـازی این بندها، پس از چاشت روز دوشـــنبه از سوی رئيس عمومی حـــوزه‌ی دريايی کابـــل و مقام‌های محلی غزنی، آغاز شده است.

حبيب‌الرحـــمان حق‌پـــال، رئيـــس عمومـــی حوزه‌ی دريايـــی کابل، در هنگام گشـــايش کار بازســـازی بند ((سردی)) در ولســـوالی اندر غزنی مي گويند که قرار است ۲۴ برنامه‌ی آبی بـــه ارزش ۵۶ میلیون افغانی، در ايـــن ولايت تطبيق شـــود.به گفته‌ی رئيس عمومی حوزه‌ی دريايی کابل، برنامه‌های بازسازی اين بندها شامل بند سرده، بند سلطان، بند زنخان، بند بهايي و بند باغ‌چری و ســـاخت ۱۹ بند کوچـــک ذخيره‌ای آب در مرکز و...ص۷



## له ايران او پاکستان څخه زرګونه کډوال هيواد ته راستانه شول

دکډوالـــو او راســـتنېدونکو چـــارو وزارت ويلي، چې وړمه ورځ له ايران او پاکستان څخه ۷ زره او ۱۴۶ افغان کډوال هېوادته راســـتانه شـــوي دي. يادوزارت ليکلي ،چې ددغو کډوالو له



ډلې څه باندې ۳ زره او ۵۰۰ يې په زور له پاکســـتانه ايستل شوي، چې دسپين بولـــدک له لارې هيوادته رارســـېدلي دي. دوزارت په خبره، له ايران څخه راستنو شويو کډوالو کې جبري او په خپله خوښـــه راستانه شوي شامل دي ،چې داســـلام کلا له لارې افغانستان ته راستانه شـــوي دي. په کډوالو کې اړمن يې دمرســـتو ترلاسه کولو لپاره اړوندو نړيوالو بنسټونو ته ورپېژندل شوي دي.

## قصر دارالامان گشايش يافت



قصر دارالامان پس از حدود يک ســـال ديروز (سه‌شنبه) با حضور شـــماری از مقامات حکومتـــی بـــه‌روی بازديـــد ســـياحين و مردم عام افتتاح شـــد. شـــماری از مقام‌هـــای حکومتی در مراســـمی که به همیـــن منظور برگزار شـــده بـــود، بـــا تاکيد بـــر اهميت بازديد از مکان‌های تاريخی، تصريـــح کردند که حکومت متعهـــد اســـت تـــا مکان‌های تاريخـــی را بـــرای مـــردم به نمايش بگذارد.

## په سرپل کې د دوو پرمختيايي پروژو کار پيل شو

دسرپل ولايت سيمه ييزو چارواکو ددې ولايت په سانچارک ولسوالۍ کې د۷ ميليونـــه او ۷۰۰ زره افغانيو په لګښت دعامه ګټو ددوو پروژو دپيـــل خـــبر ورکړ.دسرپـــل ولايت دســـانچارک ښـــاروالۍ يو مسئول هدايـــت الله هاشـــمي وايـــي، چې دتکـــزار ښـــار دسرکلر ســـړک له صميم لېســـې څخه تر ســـانچارک ښاروالۍ پورې دسړک دکانکريټ او شـــاوخوا کانالونـــو دپخولو کار روان دی.دده پـــه وينا: دغه پروژې به په دوو مياشتو کې بشپړې شي.

## ميدان‌وردګو کې ښوونځي ته ودانۍ جوړه شوه

دميدان‌وردګـــو دپوهنـــې رياســـت چارواکـــي وايـــي، چې پـــه جغتو ولســـوالۍ کې په شـــخصي لګښت د((بيدموشک))...۷مخ



د مهاجرينو راستنېدل؛ ستونزه او فرصت ۲مخ

بـــی تفاوتی امروز ما باعث مصيبت های بزرگ فردا ميگردد! ص۳

د افغاني کډوال له فلسطيني ورور سره خواله ۴مخ

## د غزني ناوې ولسوالۍ ته ودانۍ جوړېږي

دغزني محـــلي مســـئولين وايي ،چې ددې ولايت اړونده ناوې ولسوالۍ تـــه د۲۰ ميليونه افغانيو په لګښـــت اداري ودانۍ جوړېږي...۷مخ



## کمک يک ميليون دالری جاپان با زلزله‌زدگان هرات

جاپـــان يـــک ميليـــون دالـــر را به آســـيب‌ديدگان زلزله‌های اخير در ولايت هرات، کمک کرده است.

برنامـــه جهانی غذای ســـازمان ملل متحـــد(WFP) بـــا اســـتقبال از اين کمـــک جاپـــان، گفته اســـت که با اســـتفاده از اين پول، به نزديک به ۳۳ هزار فرد متاثر از لزله‌های اخير رسيدگی خواهد شد.

در اعلاميـــه ايـــن نهـــاد بـــه نقل از تاکايوشـــی کورميا، ســـفير جاپان در کابل آمده اســـت که اين کشور از زلزله‌زدگان ولايـــت هرات، در زمينهٔ بازسازی مناطق شان حمايت می‌کند.

گفتنی‌است که جاپان در اوايل سال جاری ميـــلادی نيزهفده اعشـــاريه چهـــار ميليـــون دالر را بـــرای ارائه کمک‌هـــای غذايـــی و بـــشری بـــه نيازمندان در افغانســـتان، در اختيار برنامه جهانی غذا قرار داده بود.




# د مهاجرینو راستنېدل؛ ستونزه او فرصت

د شاوخوا څلورو لسیزو جګړو او نا امنیو له امله د نورو زیانونو ترڅنګ میلیونونه افغانان اړ شول، چې خپل هیواد پرېږدي او د سیمې او نړۍ هیوادونو ته پناه یوسي، چې له ټولو ډېر یې د نږدېوالي او دیني او کلتوري مشترکاتو له امله ګاونډیو هیوادونو پاکستان او ایران ته کډه شول.

دوی که څه هم په لومړیو کې هلته ډېرې ستړې او خوارۍ وګاللې، بې کورۍ او اقتصادي ستونزې یې تېرې کړې؛ خو له ډېر وخت وروسته یې د تعلیم او اقتصاد په برخو کې ځینې لاسته راوړنې هم ترلاسه کړې. د ټوکرو او شهدو پر مشهور تجارت سربېره د ټرانسپورټ په برخه کې هم افغان مهاجرینو ډېره پانګونه وکړه، چې نه یوازې خپل اقتصاد یې پر پښو ودراوه، بلکې د کوربه هیوادونو اقتصادي حرکت کې یې هم د پام وړ مثبت رول ادا کړی دی.

په تېرو څلورو لسیزو کې افغان مهاجرینو، له ځینو فردي قضیو پرته، د کوربه هیوادونو په کورنیو مسئلو او سیاسي موضوعاتو کې هیڅ ډول لاسوهنه نه ده کړې، بلکې ټولې هڅې یې پر خپل کاروبار متمرکزې کړې دي. دغه راز کوربه هیوادونو یې هم تر ډېره حده مېلمه پالنې ته پاملرنه کړې ده. په ځانګړي ډول د تعلیم او صحت په برخو کې یې د خپلو وګړو په څېر له توپیر او تبعیض پرته ښه او غوره چلند ورسره کړی دی.

اوس چې د پاکستان لنډمهالي حکومت د ناقانونه افغان کډوالو د بېرته ستنولو پرېکړه کړې ده، دغه موضوع د ستونزو بعد یې دا دی، چې رښتیا هم له کار او تعلیمه محرومېدل د راستنېدونکو افغانانو لپاره ستره او جدي ستونزه ده، دغه راز اسلامي امارت ته هم، چې لږ وخت کیږي د چارو واګې یې په لاس کې اخیستي، د دومره ډېرو وګړو خوراک، څښاک، روغتیا او استوګنې ته رسیدګي عمده ستونزه ده، خو د دې معنا دا نه ده، چې موږ یې یوازې خپل مسئولیت په رسنیو کې په څو جذباتي خبرو ادا وبولو، بلکې ملت او حکومت دواړه مکلف دي، چې د راستنېدونکو افغان کډوالو ستونزو ته په ټول توان رسیدګي وکړي او دغه راز نړیوال بشري نهادونه او ټولنې هم باید خپل مسئولیتونه سرته ورسوي.

اسلامي امارت د خپلو وګړو ستونزو ته د رسېدنې په موخه یو عالي کمېسیون جوړ کړی دی او په بیلابیلو برخو کې یې د بیرته راستنېدونکو د لاسنیوي لپاره چمتوالی نیولی دی. شتمن افغانان او ټولنې هم باید په دې برخه کې له حکومت سره په ګډه مرستې وکړي او خپل رسالت ادا کړي.

او د فرصتونو او ګټې بعد کې یې بیا له ټولو لویه ګټه دا ده، چې خپل وګړي به خپل هیواد ته راستانه شي او بیا به ترې کوربانه هیوادونه پر افغان حکومتونو د خپلو غوښتنو د منلو لپاره د فشار په توګه کار نشي اخیستلی. بل دا چې په تعلیمي او اقتصادي برخو کې دغه افغان کډوال ډېر ښه کدرونه لري، له راستنېدو وروسته به په حکومتي او شخصي ادارو کې ورته د فعالیت زمینه برابره شي او د هیواد په رغونه او پرمختګ کې به یې له استعداد او انرژۍ څخه مثبته ګټه واخیستل شي.

او بل دا چې دغو افغان کډوالو په کوربه هیوادونو کې په پراخه کچه پانګونه او سرمایه ګذاري کړې، که هغوی دغه پانګونه په خپل هیواد کې وکړي او حکومت ورته لازمې اسانتیاوې برابرې کړي، د افغانستان د اقتصادي ودې په برخه کې به ډېرې ښې پایلې ولري.

# غزه د لوی تمدني ټکر وره ترانګه او څو درسونه!

وحیدالله مصلح

غزه تر اور لاندې ده، قیامتونه پرې اورېږي، اسرائیلو د خپلې دولتي ترهګرۍ، وحشتونو او ټولوژنو د پوښښ کمولو په خاطر په غزه کې انټر نېټ قطع کړی دی. الجزیره بیا هم په ځانګړو وسایلو د اسرائیلو جنایتونه نړۍ ته رسوي.

ښایي پر غزې د وچې برید پیل شي، دوی به د دې لپاره له دیسانت او بحري نفوذ نه تر ډېره ګټه واخلي، خو ازادیپالو دغه ټولې مرحلې تحلیل کړې دي او پر پایلو او پړاوونو یې اګاه دي، تر دې دمه یې هره هڅه شنډه کړې ده، ازادیپال د غلچکیو بریدونو او د اشغالګرو بریدونو د دفع کولو لوړ ظرفیت لري، له همدې امله اسرائیل په ډېره وېره او بایللې روحیه د مخامخ جګړې خرپ او ترپ کوي. داسې ویل کېږي چې اسرائیل به په ځمکنۍ جګړه کې له خطرناکو غازونو ګټنه هم وکړي، دا غازونه به د غزې د ازادیپالو ځواکونو په ځمکتلو مېټروګانو کې وپاشي، دا غازونه به بې هوشي رامنځته کوي او کېدای شي د وژنو باعث شي. ویل کېږي چې په دغو نظامي ځمکتلو مېټروګانو کې د اسرائیلو بندیان هم ساتل کېږي. تر دې دمه د اسرائیلو په بمباریو کې تر ۵۰ اسرائیلي بندیان وژل شوي دي.

غزه؛ د ازادي بخښې مبارزې نهه درسونه!

لومړی: د ازادۍ جګړه په نظریاتي او عقیدوي بنیادونو کېږي، که یو ملت د ازادۍ اراده ولري او دا اراده له نظریې او عقیدې راپورته کېږي، نو د نړۍ هیڅ ځواک د دې ارادې د محوه کولو ظرفیت نه لري، د غزې په همدې روانه جګړه کې یو طرف ته د غزې کوچنۍ ترانګه ده او بلې خوا ته ټول غرب د اسرائیلو په جبهه کې ولاړ دی، خو غزه د خپل شرف او عزت په دفاع کې جنګیږي، غورځېږي او بیا په لوړ قامت راپوته کېږي، دا قامت په خپله ولسي او تمدني ریښه کې پیاوړی دی او مقاومت کوي. اشغالګر به غزه ړنګه کړي، خو د غزې د مقاومت نظریه نه شي ختمولی، دا نظریه به د اسرائیلو له دغې لویې اجتماعي ویجاړۍ وروسته بیا راپورته کېږي او د ازادۍ او اشغال دا کشمکش به د ازادۍ تر وروستۍ نښې دوام کوي.

دویم: د غرب بشري حقونه، د ښځو حقونه، د کوچنیانو حقونه او ازادۍ دا ټولې مسخرې دي. کله چې د نړۍ انسانان په دې حقونو کې شریک نه وي، نو دا په دې معنا چې دا د غرب د استعماري موخو او نړیوالې سردارۍ یو جانبه وسیلې دي. په غزه کې ښځې او کوچنیان په ډله ییز ډول وژل کېږي خو اروپا او ټول غربي ماشین د اسرائیلو په خوا کې ولاړ دی، انسانیت قتل کېږي او دوی قاتل هڅوي او مرستې ور رسوي.

درېیم: ملګري ملتونه د امنیت شورا د ۵ وېټوګانو په مقابل کې د بې وسو او کمزورو هېوادونو مجموعه ده، دوی چې هر څومره چغې ووهي او چې هر څومره شور جوړ کړي، نو له یوې خوا یې د غرب او اسرائیلو په جنګي هجوم او ځوړ کې غږونه نه اورېدل کېږي او له بلې خوا یې اراده د امنیت شورا په انحصاري اډانه کې کنټرول او ځپل کېږي.

څلورم: د تمدنونو د ټکر غوټه په فلسطین کې ګنډه شوې او د غزې جګړه به دا غوټه یا راسپړي او یا به لاپسې ګنډه کېږي، سپړل د تمدني ټکر دواړو غاړو ته ځانګړې معنا لري، غرب د اسرائیلو په وجود کې ننوتې مستي ده، دوی په دې بدمستۍ کې دا غوټه د ځان په ګټه په خوله خلاصوي خو ازادیپاله غزه یې غاښونه ماتوي.

پنځم: مسلمان هېوادونه په ملي حکومتولیو Nation States کې یو له بله بېګانه او حتی دښمن شوي دي، دوی په ډېرو کوچنیو جغرافیو کې شخصي میلانونه او ګټې پالي، لویې هویتي قضیې د دوی له ټیټو قامتونو لوړې پاتې دي. فلسطین د تمدني شخړو په تودو کې په ځانله ځان سوځېږي او مسلمان هېوادونه د سوخت غربي توکي دي او د اسلامي وجود لمبو ته شدت ورکوي.

شپږم: مسلمان هېوادونه په سیکولاریستي بڼو او ملي حکومتولیو کې پیاوړي نه شول، دوی په وړو قضیو کې بند او سره په شخړو دي، دوی په اقتصادي، امنیتي او نظامي وابستګۍ کې د ټکر سیالان بېخي نه شول، د اسرائیلو په روان وحشي تیري او ټول وژنه کې دوی حتی په لوړ غږ خبره نه شي کولای،

د مسلمانو هېوادونو اردوګان او نظامي ادارې بهرنۍ دښمن نه لري، دوی یوازې پر خپلو ملتونو ډزې کوي، دا د روانې غمیزې لوی مظهر دی. د مسلمانو هېوادونو حکومتونو په بهرنیو وابستګیو کې فلسطین بېګانه او په هره جګړه کې یې تنها پرېښی، په همدې تسلسل په روانه عاموژنه کې که له یوې خوا ټول غرب او اروپا له اسرائیلو سره په یوه جبهه کې جنګي حضور لري، خو مسلمان هېوادونه په خپلو وابسته اډانو کې د فلسطین د نظامي او حتی اخلاقي حمایې جرئت او وړتیا نه لري. مسلمان هېوادونه په غربي قالبونو کې اصلاً دا جرئت نه شي کولای او دا وړتیا یوازې د غرب انحصاري ملکیت دی.

اووم: تر څو چې د فلسطین په ګاونډ کې ولسونه خپل زعامتونه تغیر نه کړي او تر څو چې هلته ځواکمنې او ارزښتي حکومتولۍ رامنځته نه شي، فلسطین به په خپلو وړو وړو ټاپو ګانو کې لاپسې کوچنی کېږي او په واړه ځان به د لوی دښمن مقابلې کې بې انډوله وي. د مسلمانو هېوادونو ارزښتي واکمنۍ یوازې په خپلو هویتي سیاسي اډانو کې رامنځته کېدای شي، دا واکمنې د غرب په ماډلونو کې اصلاً ممکنې نه دي.

اتم: مسلمانان او د مسلمانانو علمي او دیني مرجعیتونه د اسرائیلو پر ضد دي، دوی د فلسطین قضیه خپله بولي، خو دا ټول د اخلاقي او فرهنګي حمایت په حد کې دي، سره له دې چې د مسلمانانو اکثریت د روان اسرائیلي تجاوز پر ضد سراسر احتجاج دی خو د غرب مسلط کیان دغه اکثریتي احتجاج او نارضایتي ته دوه توته اهمیت نه ورکوي.

نهم: سره له دې چې اسلامي تمدن د واک په مانیو کې درک نه لري ،خو د تمدني ټکر اوسنی درک بیا هم په اسلامي حوزه کې دی، دا ټکر په دې معنی چې اسلام په خپل ځان کې د تمدني سیالۍ، بیا احیا او راپورته کېدو جوهر لري او غربي تمدن له همدې جوهر سره شخړه لري.



# گذشت زمان و بازی روزگار حقایق را به نمایش میگذارد

استوار

طی پنج دهه اخیر در کشور ، مردم ما صعب وسخت روز گار رابه تجربه گرفتند .

فروپاشی نظم اجتماعی ، خواسته و ناخواسته بهم افتادن احزاب و گروه هاي سیاسی ، از هم پاشیدن اقتصاد و ویرانی های بجا مانده، ماحصل این همه درگیری هاست ، در این میان هرگروه و جناح دخیل در ویراني کشور ادعای حق به جانب بودن مینمایند . اما گذشت زمان و بازی روزگار حقایق را به نمایش میگذارد و حقیقت ها را برملا میسازد.

اگر از ملامت و سلامت و گذشته های دورتر بگذریم و دو دهه اخیر را تحت نام جمهوریت و پس از آن دوسال حاکمیت امارت اسلامی را به بررسی بگیریم ،البته ازدیدگاه زمان و عملکرد های عملی که این در حقیقت امر قضاوت زمان و روزگار است ، در خواهیم یافت که صادق و کاذب کیست .طی بیست سال واندی نظام دست نشانده غربی ها تحت عنوان جمهوریت با حمایت مالی و جانی آنها که تریلیون ها دالر به کشور سرازیر گردید ، چه پیام و دست آوردی به کشور و مردم ماداشت ، آری به جز درد و تعصب و آنچه که برای منافع علیای کشور صورت گرفته چه بوده است ؟

آن کار بنیادي که صورت گرفته کدام است ؟ بیگمان هیچ ! واضح و روشن است که چند تن گماشته شده غرب با حمایت آنها قدرت را به دست گرفته بودند

به غرض عیش و عشرت و خوشگذرانی خویش ، کشور را به گودال بدبختي کشاندند . با آنکه تمام داشته های مادی کشور را امریکایي ها و نوکران آنها در جریان زمامداری شان به یغما بردند، امارت اسلامي با دست خالی و اقتصاد تحت صفر مسئولیت کشور را به دست گرفت و طی دوسال آنقدر در نظم اجتماعی و اعمار و باز سازی دست بالا دارد ،که اصلاً قابل مقایسه باپنج دهه اخیر نیست .امارت اسلامي توانست طی دوسال چهره خسته وشکسته کشور و شهرهای آنرا عوض نماید . اگر کار های انجام شده و پروژه های عمرانی را در کشور دقیق رقم بزنیم از حوصله مندی این نبشته به دور است .

یک ضرب المثل عامیانه داریم که مي گویند : آنکه لافیده نبافید،. در دوران حاکمیت جمهوریت حرف، وعده و وعید زیاد بود، اماهمه دروغ و ریا ! پس از اینکه ملت نجیب افغانستان نیت و عملکرد آنان را درک کردند از نظام فاصله وعلیه آن موضع گرفتند .تا آنکه جمهوریت از هم پاشیده شد و حاکمان گماشته شده دوباره پیش باداران خود فرار نمودند و آنها اکنون در خواب و خیال دوباره حاکمیت بر سرنوشت مردم ما ، دغدغه های مرموزانه را علیه امارت اسلامی افغانستان به راه مي اندازند. تا باشد اذهان عامه را اغوا نمایند.مردم ما یک مقوله بسیار خوب دارند که میگویند: آزموده را آزمودن خطاست. نخست اینکه ملت و مردم نجیب کشور از چهره های مکارانه شما نفرت دارند و عملکرد شما بیانگرنیات شوم تان است و دیگر اینکه افغانستان میدان خوشگذرانی امیال شوم شما نیست. باید از گذشته ی خویش نادم شده و از مردم پوزش بخواهید. اگر مردم نجیب افغانستان شما را بخشیدند، در آنصورت میتوانید در این سرزمین مقدس پابگذارید، در غیر آن این کشور دیگر جای معامله گران ووطنفروشان نیست . بهتر آنست که خواب و خیال های رویایی را از سرتان دور نمایید..

# بی تفاوتی امروز ما باعث مصیبت های بزرگ فردا میگردد!

شبیر راهل

در سال ٦١٧ هـ. ق، تارتاریان در شهر (مرو) ۷۰۰ هزار تن را کشتند. مردم و حکمرانان بغداد که آنوقت به سرکرده گی جهان اسلام نطاقی میکردند، خودرا اولی امر مسلمین میدانستند و به عنوان اولی الامران واجب الاحترام امر و نهی صادر میکردند، در برابر قتل عام اهالی (مرو) خاموش ماندند و عکس العمل لازمی را از خود نشان ندادند!

۲۹ سال بعد تارتاریان مذکور جرئت بیشتر و فراتر از حدود آسیای میانه (مرو) کردند و بغدادیان را نشانه گرفتند. زدند و کشتند، ویران کردند و انواع جنایات دیگری را نیز مرتکب شدند و تعداد کشته های بغداد به دستان تارتاریان به یک میلیون تن رسید و شهر بغداد را هم به آتش کشیدند و هیچ نشانی از تمدن و تاریخ آنرا نگذاشتند و این در واقع جرئتی بود که تارتاریان بعد از آن عمل آزمایشی تجاوز و جنایات در شهر (مرو) انجام دادند و غیرت وحمیت وعکس العمل امرای بغداد آنروز را در ۲۹ سال قبل به خود معلوم کرده بودند، که بدون شک اگر متولیان امور مسلمانان در برابر آن حرکت تجاوز کارانه اولی عکس العمل لازمی را نشان میدادند واز مردم همکیش وهم فرهنگ خود دفاع میکردند و برای متجاوزین جواب لازم میدادند، هرگز هم به تکرار جرئت گستاخی نمی کردند و کشتن انسان چه که جرئت کشتن یک حیوانی را هم در بغداد آنروز کرده‌نمیتوانستند.

پیامبر (ص) دراین مورد میفرماید: هر کسی که در دفاع از جان خودش، مال خودش و از آبرو و عزت خودش کشته شده شهید است.

مفهوم کلی حدیث اینست که اگر هر کسی به جان مسلمان و یا مال و آبروی مسلمان تجاوز کند، باید با تمام قوت خود برا ی مصونیت جان و مال وآبروی خود در برابر متجاوز جنگ و مقاومت کند. تا از یکسو برای متجاوز جواب لازم داده باشد و عمل زشت و تجاوزکارانه او بدون عکس العمل نمانده باشد، تا فرداهای دیگر دست به جنایتهای دیگر نزند و از سوی دیگر هم مسئولیت جان ، مال و آبروی خود را حفظ کرده باشد.

این در حد توانائی ها، اما وقتی که یک کس توسط یک گروه بزرگ قاتلین ، دزدان ، غاصبین و جنایتکاران حرفه یی و باندهای مافیای سیاسی و اقتصادی قرار بگیرد و به تنهایی خود در برابر آنها مقاومت و دفاع کرده نمیتواند، در اینصورت باید از سایر مسلمانان نزدیک و دور کمک بخواهد و همه با هم در برابر متجاوز و جانی و... نجنگند تا در اینده چنین تجاوزی را در سر خود نپرورانند. در چنین وضعیت تمام مسلمانان مکلفیت واجبی دینی دارند که از برادر مسلمان خود که در برابر دشمن متجاوز به کمبود نیرو مواجه شده و در مظلومیت قرار گرفته است، دفاع نمایند، زیرا مسلمانان باید در جامعه به حیث برادران زندگی کنند واز جان و مال و وطن وآبروی خود مشترکاً دفاع کنند و این امر واجبی است و هر کسی که از آن شانه خالی کند و از مسئولیت خویش طفره برود و بی تفاوتی نشان دهد، بدون شک که مرتکب عمل حرامی گردیده که نتایج مرگبار آنرا در حال حاضر و یا هم فرداهای دیگر خواهد چشید.

و اما جنگ فلسطین!



مسئله فلسطین و نارامیها و خشونتهای بیشماری اند که پس منظرتاریخی ۷٤ ساله دارند و ریشه و علل این قضیه با یک نقشه بزرگ امریکا وانگلیس در شرقمیانه پیش آمده است، روزی که مهاجرین یهودی تبار اروپا به کمک دو کشور مذکور به فلسطین آورده شدند و با اشغال سرزمین مسلمانان فلسطینی حکومت جدیدی را به نام اسرائیل ایجاد کردند و قبل از ۱۹٤۸ میلادی به نام اسرائیل در تشکیلات جغرافیای منطقه چیزی به نام اسرائیل وجود نداشت.

از همان زمان به بعد یهودیان مهاجر در سرزمین فلسطین به غصب وچپاول زمینهای مسلمانان دست درازی کردند و مسلمانان فلسطین تا به حال در برابر این حکومت جدید می جنگند، زیرا این حکومت جدید با از دست رفتن منابع کلان بشری و اقتصادی بیشمار عقار و منقول مسلمانان ایجاد شده است و از لحاظ فکری هم در طول تاریخ با مسلمانان در تقابل و جنگ و کشمکش بودند و هستند. بنابر این از نظر مسلمانان فلسطین، اسرائیل یک حکومت اشغالگر وغاصب است که باید با آن بجنگند و این جنگ به ۷٤ سال طول کشید و آغاز جنگ اخیر هم جنگ جدید نه، بلکه ادامه جنگهای ۷٤ ساله است و این جنگ نه اول است و نه هم اخر و تا وقتی... ص۷

## سپین خبري

محمد «حقمل»

که سپیني خبرې وکړم او سپینه یې ووایم، زموږ یو مشر راته وویل، چې تېره ورځ دې د یوچا ستاینه کړې وه، خو نن دې په سپینو خبرو کې بیا پرې نیوکه کړې وه، نوما په ځواب کې ورته وویل، چې یو لیکوال یا شاعر له یوڅه نه اغېزمن کېږي او له یوڅه انګېزه اخلي، چې لیکوال ته پرې د لیکلو او شاعرته پرې د شعر جوړولو ډانچه په لاس ورځي. که تاسې خپله فکر وکړئ ، ستاسي په خپل کور کې که یو شخص ښه کار وکړي، د مور او پلار، خویندو او ورونو، اقاربو او خپلوانو له لوري ستایل کېږي او ټول یې د ښه کار صفت کوي. د بېلګې په توګه یوتن په کورنۍ کې ښه اخلاق لري، خو نور بیا د هغه په څېرا خلاق نه لري،نو هر څوک یې نوم اخلي او وایي، چې د محمود په زامنو کې دویم زوی احمد ډېرښه سړی دی او ډېرښه اخلاق لری.

یا یو څوک په کورنۍ کې ښه لیاقت لری، نوټول خپل او پردي، یاران او دوستان او همدارنګه استاذان یې هم ستاینه کوي،چې د ولید زوی خالد دومره لیاقت لري، سږکال له دوولسم ټولګي څخه عمومي اول نمره فارغ شو او د کانکور په آزموینه کې هم د ۳٥۰ نمرو په ترلاسه کولو سره د کابل پوهنتون طب پوهنځی ته بریالی شو. د بریالیتوب په پار یې د کورنۍ،خپلوانو، دوستانو او همدارنګه د دولت له لوري د بریا لمانځنه کېږي. شاعران، لیکوالان او ژورنالیستان د ملت د ترجمانانو دنده لري. د ولس ستونزې د چارواکو تر غوږونو رسوي، د ښو ستاینه او د بدو غندنه کوي. زه هم چې د افغاني ټولنې د یوه فرد حیثیت لرم او شاعر او لیکوال هم یم ،نو نه شم کولی، چې د هر چا هرې ناروا ته ښه ووایم، بلکې زه به دولس ستونزې له حکومت سره شر یکوم او د دواړو طرفونو ښې کړنې به ستایم او بدی به یې غندم او دا زما ایماني مسئولیت دی چې سپینو ته سپین او تورو ته تور ووایم.

لکه چې مرحوم گل پاچا الفت ویلي:

هر چا که هرڅه ویل ته به صفتونه کړې
هر یو به لقمان ګڼې دلته چې اوسېږي ته
ټیټو ته به جګ وایې ناست که په ټیټ ځای کې وو
ځمکه به اسمان ګڼې دلته چې اوسېږي ته

همدارنګه یو بل شاعر بیا وایي چې:

د حق ویل د حق منل د حق کول دي پکار
د حق په لاره کې د ځان قربانول دي پکار

خو زما په نظر که سپینه یې ووایم، موږ باید په خپل سیاست او پالیسۍ کې نرمښت راولو او منځلاریتوب غوره کړو. لکه چې وایي :داسې پرېکړه به کوې چې نه سیخ وسوځي او نه کباب او په بله معنی لږ ته ورپورته شه اولږ دې هغه راټیت شي او په دې حساب اسلامي شریعت هم په ځینو موضوعاتو کې مصالحت ته ترجیح ورکوي ، نو زموږ لیکنې په دې اراده او نیت نه دي، چې خدای مه کړه یو څوک توهین کړو، بلکې سالمه نیوکه باید په ورین تندی ومنو او خپله نیمګړتیا اصلاح کړو.

# افغان کډوال؛ هر افغان د هیواد لپاره یو فرصت دی

دا چې هر انسان په خپل ذات کې یو کمال لري او له خپل دغه کمال څخه د نورو انسانانو د هوساینې لپاره ګټه اخلي، نو ویلي شو، چې نړۍ کې د ټولو خورو ورو افغان کډوالو په ګډون د دې وطن هر بچی د افغانستان لپاره یو فرصت دی او باید ګټه ترې پورته شي او د دې هیواد په آبادۍ او ښېرازۍ کې سهیم شي.

افغانستان کې په کور دننه عام افغانان او اسلامي امارت د پاکستان په ګډون له بهرنیو هیوادونو څخه د بېرته راستنېدونکو کډوالو راتګ ته وارخطا نه دي او په دې برخه کې د اړوندو ادارو وروستیو ګامونو ته په کتو د دغو کډوالو سمبالول او مدیریت کولو ته چمتو دي.زه د یو خبریال په توګه ډاډمن یم، چې پاکستان او نوره نړۍ کې د مېشتو افغانانو ترمنځ ژبور علماء، پیاوړي کادرونه، متور لوبغاړي او نور افراد او اشخاص موجود دي، چې د ګران وطن افغانستان د ابادۍ لپاره به ډېر اغېزمن واقع شي. بل دا چې د دغو کډوالو په سمبالولو کې هیواد کې مېشت افغانان باید هم پراخه ونډه واخلي، تر څو اسلامي امارت وکولی شي، دغه احتمالي کړکیچ مدیریت کړي.خو عوام څه کولی شي؟هغه خلک چې کرایي کورونه لري باید کرایې ارزانه کړي او هغه هیواد وال ،چې د خوراکي توکو لوی پلورنځي لري، بیې دې راټیټې کړي، دغه راز ډاکټران او د درملو پلورونکي باید د دغو بېرته راستنېدونکو کډوالو لپاره ځانګړې تخفیف په نظر کې ونیسي او آن وړیا درملنه یې وکړي.بالاخره دلته هر مېشت افغان د خپلو دغو هیوادوالو لاسنیوی په یو نه یو ډول وکړي، تر څو په ګډه له یوه احتمالي کړکېچ څخه مخنیوی وکړي.

نړیوالې مرستندویې ادارې او په کور دننه خیریه ټولنې او بنسټونه هم په دغې برخه کې مسئولیت لري او باید په دغسې حساسو شرایطو کې د خپلو وطنوالو لاسنیوی وکړي.

ټوله کې د دغو کډوالو بېرته راتګ هیواد ته نېک فال دی او یقیناً چې دوی به د هیواد په پرمختګ کې رغنده رول ولري.



# له دارالهجرته تر خپل کوره...

احمدزی

پاکستان چې له لسیزو یې افغان کډوال په خپله تحت السلطة کې ساتلي او د هغوي کوربتوب ته یې تر دې مهاله دوام ورکړ، بالاخره یې د وخت د چارواکو د صبر کاسه ډکه شوه او میلمانه افغانان یې له خپل کور څخه رخصتیدو ته اړ کړل.

هوکې! پاکستان له وختونو په همدې هڅو بوخت و، خو له افغان کډوالو څخه یې چې ابزاري ګټه اخیستله او په دې برخه کې یې وخت پر وخت له نړیوالو څخه د شخوند پیسې ترلاسه کړې؛ بالاخره یې هماغه هیلې په ناهیلۍ بدلې شوې او د تل لپاره یې هلته میشتو میلیونونو کډوالو ته په سپین سترګۍ ځواب ووایه.

جالبه دا وه چې پاکستان دغه لوبه د خپل هغه پنجابي اقتدار پر مهال، چې له بنسټه یې د خپل هیواد انحصاري واکمني مخته وړې وه، عملي نه کړه؛ بلکې د لنډمهال لپاره یې یو نشنلست پښتون د اقتدار پر مخ راوست او د هغه پر مټ یې دا ګام واخیسته؛ څو سبا خلکو ته وښیي چې ګواکې پنجاب خو د میلمنو افغانانو ښه کوربتوب کاوه، خو پښتانه وو، کله یې چې د قدرت جزیرې کراس کړې، نو میچنې یې په خپلو پښتنو وځرخولې.

که څه هم پنجابي واکمنو د افغان مهاجرینو پر سر له امریکې او نورو هیوادونو څخه په سلګونو میلیارده ډالره بسپنې ترلاسه کړې وې او پر کابل یې د احسان اړولو یواځنۍ دکمه همدا مهاجرې پرګنې بللې، خو تر پایه نه د مهاجرینو اصلي حقوقو ته ژمن پاتې شول او نه یې هم له لسیزو وروسته ورغلي افغانان د ځان وبلل.

بله خوا یې بیا د لر پښتانه داسې ذهناً وروزل چې له نورو پښتنو قومونو سره به یې پیوند په ډېر مشکل منځته راځي.

له انګریزي ښکیلاک څخه دورته پاتې ډیورند فرضي کرښې لانجه یې داسې پرمخ یووړه چې اوس د هغې غاړې پښتانه لا پر دې غوسه کوي چې ولې ورته د رسمي سرحد نوم نه کارول کیږي.

که څه هم د پاکستان د اقتصاد یوه غوښنه برخه لا هم د افغان بډایو سوداګرو د سرمایه ګذاري محصول دي، خو دغه هیواد هغه احسان و نه مانه او لا د مهاجرینو د کوربتوب په زمانه کې یې له افغانانو سره چې کوم ډول خشن چلندونه وکړل، ښایي د تاریخ صحیفې یې له یاده ونه باسي..

ښایي اوکراین او منځنې ختیځ کې د یهودي نړۍ مصروفیدل او له چین او روسیې سره د امریکایي ښامار بد اخلاقیو پاکستان ته دا ور په زړه کړې وي، چې نور یې نه د قدیرخان تولید شوې وسیله کاري ابزار ده او نه هم له لویدیځو مؤسساتو څخه د مالي تمویل هغه متاع قلیل لاسته راوړلي شي، چې په تیرو کلونو کې یې پر افغان مهاجرینو د فشار راوړلو پرمهال تر لاسه کول.

بله خوا د یوه سوکاله او آرام افغانستان شتون که څه هم د سیمه ییز اتصال لپاره د ټولو په ګټه دي، خو قسم خوړلي پاکستاني پوځ او



نورو کړیو ته یې بیا دلته د یوه سوکاله، مترقي او پر خپلو پښو ولاړ افغان نظام شتون یوه معما ښکاري؛ نو کیداي شي د مهاجرینو د راستنیدو پر مهال دلته د نا امنیو د خپریدو په موخه، د خپلو اجیرو بریځو لښکرې هم راولیږي؛ هغه تجاوز چې باید وار له مخه ورته ټول لوري متوجه وي.

موږ چې اوس په هغه وضعیت کې نه یو چې د بودیجې غوښنه برخه مو جګړو کې مصرف شي او د ټولو اداراتو توجه زیربنایي کارونو ته ده، نو کولای شو له فرصت څخه په استفادې د خپلو راستنیدونکو کډوالو ښه لاسنیوي وکړو.

داچې زموږ زیاتره تللي کډوال په خپلو پلرنیو کلیو او ښارونو کې میشت ځایونه او ملکیتونه لري، نو تر یوه حده ملا ماتوونکې نه ده چې یواځې ددوي... ۷مخ

# د افغاني کډوال له فلسطیني ورور سره خواله

لیکوال: باهر حقپال

زه په پاکستان کې دافغان کډوالو له ډلې څخه یو تن کډوال ماشوم یم. دمکتب او مدرسې له همځولو او ښوونکو په ډک زړه، ځمجنو



سترګو او غريو نيولو خدای په امانۍ وروسته راغلم. ځم خپل هیوادته. په تلو- تلو کې غواړم له تا همځولي فلسطیني سره دخوالې په ترڅ کې خپل دردشریک کړم. نهٔ پوهیږم له کوم ځایه یې پیل کړم. کوم دردونه دلفظونو په سکرین در ننداره کړم؟. څنګه خپله بیخې ډېره سپکه پر خپله وړه ژبه درته تشریح کړم؟ توکل په خدای له څو مشترکو دردونو یې درته ګډ-وډ شیندم، پیپل یې بیا دتاریخ کار دی.

له لفّاظۍ سره اشنا نهٔ یم؛ ځکه یې لنډه او ساده وایم. زما دفلسطین ټوټه-ټوټه توپې شویه وروره! ستا درددرک کولی شم. ستا دمور او پلار ځورونکې بې وسۍ ته په خلاصو سترګو ګورم. هر ارمان یې په خېرې کې لولم. پرته له شکه تاسي بې مثاله دردونه، کړاوونه، دربدرۍ او بې زارۍ تجربه کړې، خو په دې ټولو سربیره تاسي په یوه هیله پایئ. تاسي دابدي ژوندپه تلوسه دا دزهرو غړپونه نوش جان کوئ، خو موږ دپخوا په پرتله له دې هیلې ناهیلې یو. تاسي خو شکر دایوبۍ قهرمانۍ پیروان او قهرمانان لا لرئ، خو موږ له ابدالي ننګې لږ ناهیلې شوي غوندې یو...

ـ زېرې مې دربانديِ! اورې؟

ـهو. وایه!

«دعالیقدر امیرالمؤمنین له خوا کډوالو ته اوولس ماده ییزه کړنلاره ترتیب شوه چې هرډول طبي، امنیتي، معاشي او نورو ابتدائي اړتیاوو ته په کې پاملرنه شوې ده. ددې ترڅنګ دهیواددفاع وزارت مو اعلان وکړ چې شپږ سوه جریبه ځمکه کې به کډوالو ته خیمې نصب شي او بله دخوښۍ خبره یې همدا اوس اعلان کړه چې دکډوالو دسازمانونو دنقل لپاره دوه زره باروړونکي دولتي موټر به هم وګمارل شي، ترڅو مو سامان ترځایه ورسوي«.

ـ په خوله دې برکت شه.

فلسطیني وروره ! وا مو وریدل؟ دا دربښتونو مشرانو نښه وي چې ګیله دې پر زړه را وګرځي هغوي دې بیا ګیله عملاً در ځواب کړي. ما یې تا ته ګیله کوله چې ابدالي زلموټې مو ننګه نه کوي، خو لله الحمددملګري په زیري مو دا ګیله هم یو څهٔ ځواب شوه.

زما کمکیه وروره! پوهیږم ستاسي او زموږ حالت نشي سره پرتله کیداي. تاسي دوخت دتر ټولو ظالم جبر او تشددلاندي یئ خو موږ هم خپلې بې وسۍ مات- مات پرځولي یو. پخوا موږ داشغال په تاړاک لولپه کیدو او دهجرت په سخته ځوریدو، خو همدې دجهاد- مجاهدې، شهادت او هجرت هیلې به ډاډ را پوکوي او دردونه به یې را ټکورول، خو اوس خبره بیخي له هجرته تر ذلالته رسیدلې، نهٔ مو دهجرت دهغو ثوابونو خوندشته او نهٔ مو وروستۍ هیله ژوندۍ پاتې شوه. هغه مسلمان ګاونډي چې مسلماني یې له تبلیغاتو تېزه تبلیغیږي، هغوي مو په عزت لوبي کوي. له ذلالته مو خونداخلي. زموږ دربدري ساعتیري ورته ایسي. آن خپل محترم (!) قانون یې زموږ ددردولو لپاره تر پښو لاندي کړي. مال، ځان او ابرو مو خوندي نه دي.

زما فلسطیني تنکیه وروره! اې کاش! له تاسي سره غبرګ دخپل حق په مخکې داسرائیلو په بمبار کې له فلسطیني کانکریټو لاندي شوي واي، خو دمسلمان وروږ له خوا مو دا ذلالت او سپکاوي نهٔ واي تجربه کړي. اې کاش! ستاسي په څېر په نره له تېغه تېر کړل شوي واي، خو دپنجابي تر لاس لاندي دپښتون ورور له لاسه نهٔ واي بې آبه او بې وسه شوې.

دفلسطین کمکۍ خورَکۍ! که ته له میلیونونو عربو ګیله لري، چې دعیاشۍ پتۍ یې سترګې ور پټې کړي دي او دفلسطین په غمیزه چوپه خوله دي؛ زه هم دپاکستان له مطرحو شیخانو، ژبورو داعیانو او مفتیانو ګیله لرم چې دخواراو زار کډوال په ننګه یې حتي له خولې چونګ قدرې را و نهٔ وت.

زما وروره! بدحال نهٔ جوړوم. ناشکري او بې ضبري نهٔ کوم. ناځوانه او بې غیرته نهٔ یم. سوال نهٔ ورته کوم. نهٔ وایم چې نهٔ مو دې وباسي. و مو دې باسي خو له اصولو سره سم



مو دې وباسي. تجارانو ته ځوریږم، دهغوي سلامتې شتمنۍ یې ضبط کړې دي، هغوي ته دې خپلې شتمنۍ ور وسپاري، نور نو موږ یوازي داصولو مراعات ترې غواړو. کورونو کې نهٔ یو خوندي، کورونه دې تر ټاکلي وخته را خوندي کاندي. دومره وخت دې را کړي چې هیوادکې مو داستوګنې ځایونه ترتیب کړو. او ها، دغمونو په دې لړ کې به یوه مکاره او درواغجنه دخوشحالۍ خبره ستا دخوشالۍ لپاره هم درته وکړم، دلته (پاکستان کې) خلک ستاسي دملاتړ لپاره سړکونو ته راوځي او له فلسطین سره د«یکجهتۍ» نوم ورکوي. دوي پرتاسي خوا بدوي او پرحال مو خفګان ښکاره کوي، خو زموږ دربدري ورته حق، ذلالت مو ورته عزت او کورونه نړول مو ورته امن ښکاري. عجب کیفیت دي، په غم کې یؤځه ددرواغجنې خوښۍ احساس وکړم، که له ما سره په ډاګه دا کوي، خو له تاسي سره بیا په پوره مهارت دتمساح اوښکي بهوي او... ددې مسلمان، مسلمانۍ ته مسلمان حیران پاتې شي چې خپل نږدي مسلمان ورور له خوږ ګوتې نیسي او لري مسلمان سره دتمساح اوښکي څڅوي.

هغو زموږ مشرانو به دپښتو متل کاوه، خداي مې دې نه غلطوي، ویل به یې: «زور مې پر تا نهٔ رسي، مړ به دې پلار کړم» زموږ ګاونډي موږ سره همدا چم راخیستي. دوي به افغان طالبان دخپل لاس خلک بلل، خو خبر نهٔ وو، چې طالب یوازي خداي جل جلاله ته سر ټیټوي او یوازي الهي منشور عملي کوي، نور نو دنړۍ دزبرځواکونو کیسه کې لا ندي. دا خبره چې له کله څخه ګاونډي درک کړې ده، بې غیرته او بزدل دښمن ته ورته، چې کله یې په اصلي مقابل زور و نهٔ رسید، دزور مخه یې مظلوم کډوال ته واړوله او په مټ یې دافغان حکومت چارواکي له خوږ ګوتې نیسي. کله دافغان تجارانو دمیوو او سبزیجاتو په مخ کې ټرانسپورټي لارې تړي، کله یې له میوو بار موټر پر لاره سوځوي او کله کراچۍ کې دمیشتو افغانانو له چین څخه وارداتي الیکټرانکس سامانونه ټالوي -چې له امله یې افغان کډوالو ته ملیاردونه افغانۍ تاوان رسیږي- کله چې دې حربو کار ور نه کړ اوس یې دکډوالو داړولو او ربړولو لړۍ پیل کړې او په دې سره مظلوم او بې وسه کډوال له مړ کولو سره-سره تر پړ کولو رسوي.

نور نو در څخه خداي په اماني اخلم. ځم درنه. تاسي به خپل ټوټه-ټوټه پاشل شوي ورونه او خویندي او موږ به دپنجاب پښو کې شیندل شوي خپل مات برم را ټولو...رښتیا خبره مې له یاده وتلې وه. دکوزې غاړې پښتون ورور ته مې زړه بدي. له خپلو پریمانه غمونو او دردونو سره-سره مې لږ وخت ور کړ او دزړه بدۍ له امله مې په موسکه لهجه ورته کړه! دا نن چې ستا په کوربه توب، ستا په کور کې چې دبر له پښتون ورور سره دې څهٔ روان دي، تجربه یې کړه، زده یې کړه او ځان ورته جوګه کړه؛ ځکه سبا له تاسره کیدونکي دي. دپنجابۍ زوي ته زه او ته یؤ یو، یوازي یؤ څهٔ وخت مو ترمنځ واټن دي. انتظار شه، زما وخت راغلي او ستا وخت را روان دي.

په الله دي سپارم. دخدای په امان

**یادونه:**

بایدو وایم چې هیڅوک خپل هیوادته په تګ خوا نهٔ بدوي، په تېره بیا موږ خو بیخي ورته خوښ یو؛ ځکه چې هلته هیوادکې داسي نعمتونه لرو چې کلونه-کلونه ترې محروم شوي یو. داسي نعمتونه چې دزرګونو سرونو په قربانۍ را لورول شوي دي. هوکې! هغه نعمتونه د«استقلال» او «اسلامي نظام» نعمتونه دي. زه خو چې دخپل هیواددااستقلال تصور کوم، بل ډول احساس کوم. عرض دا دي چې موږ هیڅ وخت دي ته زړه نهٔ ښهٔ کاوه چې دخپل هیوادپرځاي دبل هیواداوسیدلو ته ترجیح ورکړو.

# دریمه بریا؛ افغان اتلان یقیناً ښه کرېکټ کوي

دافغانستان دکرېکټ ملي لوبډله په رښتیا هم هڅه کوي، چې دکرېکټ په برخه کې دافغانانو او په نړیواله کچه دخپلو مینه والو ارمانونه پوره کړي. هندکې دروان ۲۰۲۳ م کال نړیوال جام کې دافغان اتلانو په زړه پورو او له هره اړخه باتدبیرو لوبو وښودله چې افغان لوبغاړي



اوس هغه پخواني نه دي او یقیناً مسلکي کرېکټ کوي.

زه له ۲۰۰۹ م کال څخه کرېکټ څارم او مینه وال یې یم او ماته دغه بدلونونه‌له‌ورایه‌ښکاري. دا منو چې افغانستان دکرېکټ دتوپ اچونې برخه کې دتوپ اچوونکو په ځانګړې ډول دورو هغو پیاوړي خط لري ،خو تر وروستیو پورې یعنې له نړیوال جام څخه لږ مخکې هم دلوبډلې دتوپوهنې برخه پیاوړې ، خو ډېره بې باوره وه او وروستیو څو لوبو وښودله، چې دغه برخه هم مخ په ښه کېدو ده.

دا هم منو، چې یوه لوبه کې به ټول لوبغاړي ښه نه لوبیږي، خو دسر توپوهونکي بایددا درک کړي، چې دنده یې له منځنیو او وروستیو توپوهونکو خورادرنه‌ده. تېرو څو لوبو ته که وګورو، نو زموږ دسر توپ وهونکو دمنځنیو هغو په مرسته هدف ترلاسه کړي، چې ښیي دپیل توپ وهونکو اوس خپل مسئولیت پېژندلی او دا دهیواد دکرېکټ لپاره یو ښه زېری دی.

مخکې په څو لوبو کې لیدل شوي، چې دافغانستان دپیل توپ وهونکو میدان کې خپله حوصله بایللې او ورسره جوخت نورو لوبغاړو یې هم ملګرتیا کړې او پرله پسې به یې خپلې ویکټې بایللې، چې دې کړنې به هم دمینوالو غوسه راپاروله او هم به یې حساسې لوبې له لاسه ورکولې، خو اوس ویلي شو، الحمدلله دغه ستونزه په حل کېدو ده.

بله خبره دا ،چې دلوبډ لمشر ښه او بېکاره لوبه په ټولې ډلې سوري غوړوي، چې دحشمت شهیدي وروستۍ لوبې یې ښه مثالونه دی.

نوموړي په وروستیو لوبو کې دښه مدیریت او دتوپ اچوونکو دښه استعمال تر څنګ دیو توپوهونکي په حیث خپل مسئولیت ادا کړ او دبابر اعظم، روهیت شرما او نورو پیاوړو لوبډلمشرانو په قطار کې یې ځانته ځای جوړ کړ، چې دا دټولې لوبډلې، خپله حشمت او افغان کرېکټ لپاره ښه زېری دی.

ټوله کې ویلي شو، چې که افغان لوبغاړي له شته مورال سره مخکې ولاړ شي او د۲۰۱۹ م کال دنړیوال جام له منفي کړنو څخه ډډه وکړي او دروان ۲۰۲۳ م کال نړیوال جام له مثبتو ټکو څخه ګټه پورته کړي، نو لرې نه ده، چې ددغه جام تر نیمه او پایلوبې به ځان ورسوي او بالاخره نړیوال جام دافغانستان کړي.

# د هرات لرغونو آبداتو ته اوښتي زيانونه!

شهباز خان



وروستيو زلزلو نه يوازې په هرات کې پراخ ځاني او مالي زيانونه اړولي، بلکې دهرات ښار لرغونو آبداتو ته يې هم سخت زيان رسولی دی!

چارواکو او عيني شاهدانو ويلي چې دوروستيو زلزلو له امله ټول تاريخي آبدات زيانمن شوي دي. له بده مرغه دهرات دلوي تاريخي جامع جومات ډېرو برخو ته زيان اوښتی دی. دهرات فرهنګپال هم دې ته اندېښمن دي او وايي، چې دوروستيو زلزلو زيانونه دومره پراخ دي چې په تېره يوه پېړۍ کې يې ساری نه دی ليدل شوی.

ددوی په خبره دهرات دزاړه ښار هر ځای او هرې لرغونې ودانۍ ته زيان اوښتی دی!

اندېښنه دا ده چې که دهرات دغه زيانمن شوي لرغوني آبدات ژر ونه رغاول شي، نو وېره ده چې دواورو او بارانونو له امله به دغه زيانونه نور هم پراخ شي! دهرات دلوی تاريخي جومات ګنبدو او منارونو زيانونه ليدلي دي.

دهرات لوی جومات ډېره لرغونتيا لري، په دغه جومات کې کارول شوې کتيبې ښکاره کوي، چې دا تاريخي ځای له اسلام څخه مخکې دزرتشتيانو عبادتځی و، خو وروسته دحضرت عثمان رض دخلافت په وخت کې، چې داسلام مبارک دين دلته راورل شو، دغه ځای په لومړي جامع جومات بدل کړای شو.

ددغه جومات لومړنۍ ودانۍ له لرګيو جوړه شوې وه، خو وروسته په ۵۹۷هـ ق کال دامام فخري رازي په مشوره دسلطان غياث الدين محمدبن بهاالدين سام غوري په اهتمام يې په اوسنۍ بڼه په پاخه او اساسي ډول دجوړولو چارې پيل او دهغه دزوی سلطان غياث الدين محمدغوري له خوا بشپړ کړای شو، خو دغه جومات له جګړو هم خوندي پاتې نه شو، په ځانګړې توګه پردې سيمه دچنګېزخان ديرغلونو له امله ويجاړ شو او څوځله بېرته رغاول شوی دی.

دهرات لوی جامع جومات او ددغه جومات پارک په ٤٦٧٦۰ متره مربع او بنسټ يې په ۲۱٦۰۰ متره مربع ځمکه کې جوړ شوي دي. دغه جومات په ۳۲-۱-۷۹ شمېرې سره دافغانستان دلرغونو ودانيو په نوملړ کې ثبت او راجستر شوی دی.

همدارنګه دهرات وروستيو زلزلو ددغه ښار اختيارالدين کلا ته هم زيانونه اړولي دي. ددې لرغونې او تاريخي کلا چې څه دپاسه ۲۰۰۰ کاله لرغونتوب لري، برجونه لړزېدلي او زيانمن شوي دي.

اختيارالدين کلا دهرات له ټولو لرغونې کلا ده، دې کلا ته ارګ هم ويل کېږي، چې دهرات دارګ او سکندري کلا په نامه مشهوره ده.

اختيارالدين کلا دهرات ښار په زړه کې جوړه شوې ده. دتاريخپوهانو دڅېړنو له مخې دغه کلا دعيسي ع له ميلادڅخه ۳۳۰ کاله وړاندې افغانستان ته دلوی سکندر او دهغه دلښکر دراتګ په وخت کې جوړه شوې ده.

وروسته ډېرو امپراتورانو له دې کلا دخپلې پلازمېنې او ارګ په توګه کار اخيستی دی. له همدې امله دغه کلا ډېره مشهوره ده او بهرني سيلانيان يې ليدلو ته ور مات دي. په دې وروستيو کې اختيارالدين کلا پر ملي موزيم بدله کړای شوه.

دهرات دلوی تاريخي جومات او اختيارالدين کلا تاريخي شاليدته مو ځکه لنډه کتنه وکړه، چې دا لرغوني آبدات دافغانستان لپاره ستر ارزښت لري، همدارنګه دهرات ښار دفرهنګ او علم کور دی، ددې تر څنګ ستر تاريخي اهميت لري، چې ددغو آبداتو ساتنه، بيا رغاونه او پرې پام دټولو ستر مسئوليت دی!

له نېکه مرغه دهرات چارواکو ژمنه کړې، چې دوروستيو زلزلو له امله ددغه ښار لرغونو آبداتو ته اوښتي زيانونه به ژر جبران او زيانمې شوې ودانۍ به بېرته ورغوي، خو دهرات دلرغونو او تاريخي کاشيانو دکارخونې مشرانو په دې برخه کې خپلې ستونزې وړاندې کړې دي. هغو رسنيو ته ويلي چې دکار ګرانو دشمېرو له امله ستونزې لري .دوی وايي :کارګران يې لږ دي او اوس دپخوا په څېر کاشي نه شي جوړولی.

دا چې دهرات لوی تاريخي جومات او دغه راز اختيارالدين کلا او نورې لرغونې مېنې په دې وروستيو کې په ډېرو لګښتونو رغاول شوې وې، نو اوس هم دغه چارې ډېر دقت او سخت کارته اړتيا لري.

هيله ده چې دلرغونې مهندسۍ پر مټ دهرات لرغونو آبداتو ته دوروستۍ زلزلې له امله اوښتي زيانونه په ښه او اساسي توګه بېرته جبران کړای شي او بېرته دپخوا په څېر په اساسي توګه ژر ورغاول شي چې يو ځل بيا دسيلانيانو دورتګ لپاره پرانيستل شي.

# د سنتو پيروي کول

## دري شپېتمه برخه

وحيدالله عمر المدني

**درسول الله ﷺ ديو څو متفرقو عاداتو بيان**

دا چې رسول الله ﷺ دخپل امت لپاره نمونه ده او پر امت لازمه ده چې درسول الله ﷺ په طريقو باندې خپل ځان عيار کړئ او کومې طريقې چې رسول الله ﷺ کړي او خوښې يې وي ، نو امت ته يې پکار ده چې په همغو طريقو باندې عمل وکړي.

نو اوس راځو درسول الله ﷺ ديو څو عاداتو په اړه:

- بوټونه ويستل اوبيا ناسته سنت ده(کنزالاعمال ۱۵۲)
- دسبا لمونځ نه بعداشراق پورې په مصلی ناسته سنت ده.(مجمع الزوائد۱۰،۱۰۵)
- حضور ﷺ ته به چې کله دچا نوم معلوم نه و، نو يا عبدالله ويلو سره به يې ورته آواز کولو.(جامع الصغير ۴۲۱)
- دعيدالفطر دلمونځ لپاره به دڅه خوړلو نه بغير نه تللو(الاحسان ۷،۸۱۲)
- دعيدالاضحي دلمونځ لپاره بغير دخوراک نه تلل سنت دي.
- حضور ﷺ به دښځو لاسونه بغير دنکريزو نه نه خوښول.(آداب بيهقي ۳۷۹)
- دوفدونو او ميلمنو په راتلو باندې عمده لباس اچول سنت دي.(فيض القدير ۵،۱۵۵)
- حضور ﷺ به صدقه او خيرات کې څوک واسطه نه جوړولو (چاته به يې نه حواله کوله)(ابن ماجه۳۰)
- حضور ﷺ دخلګو خدمت خوښولو (مسنداحمد۱۹۹)
- حضور ﷺ به خلګو نه تر هغه وخته نه جدا کيدو تر کومه چې هغوی به په خپله جدا نه شول.(مطالب عاليه ۴،۲۴)
- حضور ﷺ ډېر مهربانه او رعايت کوونکی و.
- دجمعې او دعيدينو په ورځو دخاصو جامو اهتمام کول سنت دی(مجمع ۱۷۹)
- دميلمه خدمت په خپله کول سنت دی(مجمع الزوائد۱۰،۲۰)
- دخلګو دمرتبې رعايت کول سنت دی (ابو داوود۶۶۵)
- په اودس کې اوسيدل سنت دی (ابن سعد۲۶۹)
- دحفظ الله دعا سنت ده يعني حفظک الله (ابوداوود۲،۷۰۹)
- نکاح کې شهرت او اعلان کول سنت دی (مسنداحمد۴،۴۷)
- نيک عمل کې هميشه والی سنت دی (ابن سعد۳۷۹)
- دتعجب وخت کې سبحان الله ويل سنت دی (بخاری ۵۲)
- کله چې ديو تکليف احساس وي نو معوذتين دری ځله ويل او دم کول سنت دی (بيهقي فی الشعب ۲،۵۱۴)
- دشپې په اوله کې ويده کيدل او دشپې په آخر کې تهجدو لپاره پاڅيدل دحضور ﷺ خوښ وو(بخاری ۱۵۴)
- سپينه ټوپۍ په سر کول سنت دي (مطالب عاليه ۲،۲۷۲)
- کله چې ديو ضروری کار دهيريدو ويره وي نو قچه ګوته کې څه تار دنشان په توګه لګول سنت دي (جامع الصغير ۴۰۹)
- آواز کوونکي ته دحاضر ځواب کول سنت دي(مجمع الزوائد۲۰)
- دحضور ﷺ دوهلو عادت نه و (دلائل المختصر ۳۱۲)
- دالله ﷻ په فرائضو کې حضور ﷺ نرمي او معافي نه کوله( اخلاق النبوي ﷺ ۴۵)
- حضور ﷺ به دخلګو نهائی درجه رعايت کولو۰(اخلاق)
- حضور ﷺ به دزمزم اهتمام کولو (ترمذی ۱۹۰)
- څوګ چې خوراک راوليږي نو باقي ورليږل سنت دی(مسنداحمد۴،۹۴)
- حضور ﷺ به چې کله ديوې سريه لښکر ليږلو نو دورځې په شروع کې يې ليږلو (مسنداحمد۳،۴۳۲)
- حضور ﷺ به عمده خوب خوښولو (فيض القدير ۵،۲۲۸)
- کله چې جنازه کې روان وی نو خاموشۍ سره تلل سنت دی(جامع الصغير ۲،۶۷۳)
- دچا دکورمخې ته دريدل خلاف سنت دي (مشکوة ۴۰۱)
- دتقسيم لپاره چې يو څيز راشي نو مخې سره يې تقسيم کول سنت دي (جامع الصغير ۶۶۳۳)
- دويده کس رعايت کول سنت دی (ترمذی ۹۶)
- خرابو کسانو سره هم درعايت او اخلاقو سلوک کول سنت دي.(بخاری ۲،۸۹۴)
- په تياره کورکې ناسته خلاف سنت ده (کنز الاعمال ۷،۲۲۲)
- کله به چې حضور ﷺ په کور والا کې دچا ددروغو نه خبر شو نو اعراض به يې ترې کولو يعني ربط دمحبت به يې ورسره نه ساتلو تر دې چې توبه به يې و ويستله (کنز الاعمال)
- دپاڅيدو په وخت کې يو لاس پر ځمکه ايښودل سنت دي (کنز الاعمال ۷،۱۵۰)
- ديو کار دشروع نه وړاندې دا دعا سنت ده اَللّٰهُمَ خِرْلِیْ اِخْتَرْلِیْ (نرمذی ۲،۱۹۱)
- دخوراک او څښاک دڅيزونو بدي بيانول خلاف سنت دي(دلائل النبوة ۳۲۱)
- حضور ﷺ به تيز آواز سره چغه نه خوښوله (ابن سعد۳۶۵)
- چمن او باغيچه کې لمونځ کول سنت دي (ترمذی ۷۷)

**نور بيا إن شاء الله ...**

# د تهجدو کولو فضيلت او ترغيب

مولوي عبدالجبار درويش




الله تعالی زموږ او ستاسو ټولو انسانانو خالق او مالک دی. پر موږ او تاسو ټولو مسلمانانو ورونو يې ډېر لوی احسان کړېدی چې مسلمان يې پيدا کړي يو اودمحمدمصطفي امتيان يې پيدا کړي يو دالله تعالی دثنا او صفت نه وروسته تاسو ته داسلام په مبارک دين کې دتهجدو کولو فضيلت او مقام تذکره کوم دفرض لمونځو نو پس په نورو لمونځو نو کې ... داهميت او ثواب په اعتبار سره دتهجدو لمونځ دټولو نه زيات دی. دنبي کريم ص په نزدڅومره مرتبه او مقام و، دابه درته په نني موضوع کښې، په ښه شان سره بيان کړای شي اوکه چيري ددي، اثرمعلومول غواړۍ، نو،دالله تعالی،ددوستانو دسيرتونو مطالعه دي وکړای شي چي هغوي ددې لمونځ په برکت سره څنګه خپل آخرت ښايسته کړ او څنګه مرتبو دفضل او کمال ته ورسيدل هم ددې تهجدو لمونځ په برکت او ذريعي سره قرب الهي او تجليات رباني او انعامات او اعزازات رحماني حاصل شول او الله جل جلاله دي مقام ته ورسول.

دتهجدو دلمونځ وخت : دشپي څه وخت خوب کولو نه وروسته پاڅېدلو سره چي کوم لمونځ کولۍ شي هغه ته تهجدويلی شي. دنيمي شپي نه پس تر صبح صادق پورې ددې لمونځ وخت دی. په دي وخت کي ددوه رکعته لمونځ نه واخله تر دولسو رکعتو پوري لمونځ کولۍ شي ربښتيا خبره داده چي دتهجدو په پابندي سره الله تعالی په خپل بنده باندې دعنا ياتو او كراماتو باران کوي او چې کوم ظاهر ي او باطني دولت ورکوي دهغه کيفيت او کميت په الفاظو کښي بيانول ګران کار دی . ياالله موږ ټولو مسلمانانو ورونو ته پراخ او حلال رزق او روزي نصيب کړي. الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايي چي دشپي په دريمه حصه کښي تهجدکوي کوم دستاسو لپاره دفرايضو نه زيات يو عبادت دی. اميددی چي ددې په ذريعه ستا رب تاسو مقام محمودته ورسوي .په مقام کې الله تعالی فرمايي چي دهغوي اړخونه دبسترو نه لري اوسی يعني زيات وخت په عبادت کښي لګوي دالله تعالی ارشادمبارک دی چي دا خلک دشپي ډېر کم ويده کيږي. يعني دشپي زياته حصه کښي عبادت کوي ام المؤمنين حضرت عايشه رضی الله عنها فرمايي چي نبی کريم ص به دتهجدو په لمانځه کښې دومره اوږدقيام کولو چي پښي مبارکي به يې دپړسوب دوجي و چا وديدلي...۷مخ

### د تهجدو کــولو...

مـا بـه چـې داحالـت ولیـدل، نـو مـا بـه ورتـه وویـل چـې ای داللـه تعالـی رسـوله ص دومـره تکلیف او مشقت ولې برداشت کوې؟ ستاسـو که چېرې وي، ټـولې خطـا ګاني الله تعالـی معـاف کـړي دي نـو نبـي کریـم ص پـه ځـواب کښـې ویـل دا خـبره خـو صحیـح ده. لیکـن ولې داللـه تعالـی شـکر ګـذاره بنده جـوړ نشـم (متفـق علیـه) حـضرت علي رضي الله عنـه فرمايي چې یوه شـپه حـضرت محمدمصطفـی ص زمـا او فاطمې کره تشریـف راوړ او وي فرمایـل چې تاسو دشپې لمونځ یعنـي تهجـدولې نـه کـوئ؟ (متفـق علیـه) حـضرت سـالم ابـن عبداللـه ابـن عمـر رضي اللـه عنـه وایـي چې زمـا پـلار وايـې چـي یوځـل نبـي کریـم ص وفرمایـل چـي عبداللـه بـه ډیـر ښـه سـړی شي کـه چېرې دشپې لمونځ هـم شروع کړي سـالم وايـې چـي ددې نـه پـس به زما پلار ډیـر کـم ویـده کیـده متفـق علیـه حـضرت عبداللـه بـن عمـر و بـن العـاص (رض) وایـې چې نبی کریم ص هغـه تـه مخاطـب شـو او وي فرمایـل :عبداللـه ګـوره چـې دفلاني پـه شـان مـه کیـږه چـې هغه دشپې لمونـځ ځـه مـوده وکـړ لیکن بیایې پریښـوده (متفـق علیـه) دحـضرت عبداللـه بـن مسـعودرضی اللـه عنـه راوي دی چـې رسـول اللـه مبـارک ص پـه خدمـت کـي دداسي سـړي پـه بـاره کښې پوښـتنه وشـوه چـې ځـوک ټولـه شـپه تـر سـبا پـورې و یـده وي نبـی کریـم ص وفرمایـل چـي دچـا پـه دواړو غوږونـو کښـي او یـا یـې وفرمایـل پـه یـو غـوږ کې شـیطان متیـازي وکـړي هـم هغـه داسـې سـړی کیـدای شي (متفـق علیه)دحـضرت ابوهریـره رضـی اللـه عنـه نـه روایـت دی چـې نبـی کریـم ص وفرمایـل چـې درمضـان المبـارک نـه پـس بهـتره روژه داللـه دمحـرم دمیاشـتې ده اودفـرض لمونـځ نـه پس افضـل او غـوره لمونځ دشپې لمونـځ یعنـي دتهجـدو لمونـځ دی (مسـلم شریف)دعبداللـه بـن سـلام نـه روایـت دی چـې نبـی کریـم ص وفرمایـل: ای خلکو ! سـلام له رواج ورکـړي دا ښـه خـور کـړي وږو تـه خـوراک ورکـوئ چـې ددنیـا ځلک ویــده وي نــو تاســو پاڅـي لمونـځ وکـړئ نـو سـلامتیا سره بـه جنـت تـه داخـل شي (ترمـذي شریـف) اللـه تعالـی دي مـوږ او تاسـو ټولـو مسـلمانانو ورونـو تـه پـه دي بانـدي دعمـل کولـو توفیـق رانصیـب کـړي .امـین ثـم امـین

### بی تفاوتی امروز...

کـه ایـن مسـئله اساسـاً حـل نشـود، جنـګ ادامه خواهـد داشـت.بعضی هـا کـه اسـتدلال میکننـد، جنـګ اخیـر را حـزب حـماس آغـاز کـرده، کمـی تاریـخ بخواننـد و بخـود اجـازه دهنـد کـه بـدون ذهنیـت دیگـران هـم ګاهـی کـه ضرورت شـد کتـاب بخواننـد ومسـایل را از اسـاس آن ریشـه یابی کننـد و آنـګاه لـب به سـخن بګشـایند.بدون شـک کـه اګـر مسـلمانان طوری کـه لازم بـود از هـمان اول عکـس العمـل لازم را از خـود نشـان میدادنـد، ګـپ بـه ۷۴ سـال نمـی رسـید و در هـمان سـالهای نخسـتین ایـن ناسـور بـزرګ تـداوی میګردیـد ، امـا چنانچـه شـاهد هسـتیم آنوقـت اولا مسـلمانان فلسطین در وضعیـت بـدی قـرار داشـتند و بـه عنـوان یـک کل در برابـر وحـدت بـزرګ یهودیـان کـه پشـتوانه کشـورهای فاتـح جنـګ جهانـی هـم داشـتند صـف کشـیده نتوانسـتند و ایـن پراګندګی و نبـود حمایت مسـلمانان دیګـر موجـب مظلومیـت آن و بـه درازا کشـیدن جنـګ ګردیـد کـه موجـب قتـل و کشـتار هـزاران تـن مسـلمانان در طـول ایـن مـدت ګردیـد، درحالـی کـه مـی بایسـت هـمان طوری که یهودیـان جهان با وحـدت فـرا منطقـوی و وسیع شـان از حکومـت اسرائیـل در اراضـی مسـلمانان حمایـت کردنـد و تـا حـالا هـم ایـن حمایت ادامـه دارد، مسـلمانان هـم بایـک وحـدت ملی و فرامنطقـوی و انترناسـیونال در برابـر اشـغال اسرائیـل صف میکشـیدند و از داعیـه بـر حق مسـلمانان فلسـطین حمایـت میکردنـد، ولـی متاسـفانه کـه مسـلمانان چنیـن ابتـکاری را کـه خواسـته ایـمان و اسـلام هـم بـود، از خـود نشـان داده نتوانسـتند و جهـان اسـلام در هـمان حـدود تنـګ قومـی و قبایلـی خویـش بـه قضایـا نـګاه میکردنـد و تـا اکنـون هـم ادامـه دارد و ایـن وضعیـت مسـلمانان فلسـطین را مظلـوم و مظلومـتر سـاخت و اینـک ګـپ بـه جایـی رسـیده کـه امنیـت تمام کشـورهای منطقـه را بـا قطـع نظـر از مسـایل فرعـی دیګـر بـه چالـش کشـیده و بـا وسـعت یافـتن جبهـه جنـګ اخیـر کـه بـدون شـک اینبار وسـعت هـم خواهـد یافـت، تمام شرقمیانـه را جـبراً بـه جنـګ خواهد کشـاند و تباهـی هـای بـزرګ را در پـی خواهـد داشـت و ایـن از نتایج بـی تفاوتیهـای مسـلمانان ایـن حـوزه بخصـوص کشـورهای مسـلمان عرب در منطقـه اسـت.

### له دارالهجرته...

لندمهالي مـالي تمویـل وشي؛ دغـه راز ممکنـه ده هغـوي چـې له خپلـو مېنو بې برخـې دي، پـه حکومتـي ځمکو کـې ورتـه د پنډغالـو جوړیـدو او یاځمکـې د ویـش پروسـه پیـل شي. راسـتنیدونکو کډوالـو تـه تـر ټولـو ښـه فرصـت ځکـه برابـر دي، چـې لـه یـوې خـوا حکومـت ددوي حقونـو تـه ځـان تـر خپلـه وسـه ژمـن بـولي او بـل بـه دا هـم ښـه شي چـې مـوږ تـه ګاونډیـان د فشـار د ابـزاري احسـان اړولـو پـه توګـه مهاجریـن وړانـدې کـوي، ښـه ده چې نـور د هغـوي لـه دغـه احسـان څخـه هـم د تـل لپـاره خـلاص شـو. اوس چـې لـه کوربـه هیـواده د افغـان کډوالـو د جـبري ایسـتلو لـړۍ پیـل شـوې، ښـه خبره داده چې ورسره هممهالـه افغـان حکومـت هم د هغـوي منلـو تـه پـه مینـه غیـږه پرانیسـتې او ټولـو هغـه سـهولتونو تـه یـې چمتـووالي نیـولي، چـې لـه مخـې یـې د راتلونکـو افغانانـو ښـه میلمـه پالنـه تـر سره کیـداي شي. نـو.....

بورا به خدای په ګلو موړ کړي
باغوانه ستا نیمګړی نیت مې
ژړوینه.

### صهیونیستي اشغالګر...

شـهیدان شـوي. دا پـه اثبـات رسـوي چـې اشـغالګر صهیونیسـتي ریژیـم د فلسـطینیانو ډلیـزه وژنـه پیـل کـړې ده. د غـزې پـه ترانګـه کـې د ۲۰۳ ښـوونځیو او لسـګونو روغتونونـو پـه ګـډون ۲۰۰ زره کورونـه ویجـاړ شـوي او یـا ورتـه ډېـر زیانونـه اوښـتي دي. نومـوړي د جنګـي جنایتونـو لـه نړیوالـې محکمـې غوښـتي چـې صهیونیسـتي اشـغالګر غـزه کـې پـراخ جنګـي جنایتونـه تـرسره کـوي چـې بایـد حسـاب ورسره وشي او سـزا ورکـړل شي.

### ملا عبدالغني برادر...

د اساسي ترمیم او بیارغونې چارې له دوو

بېـلا بېلـو سـاختماني او د سـړک جوړونـې شرکتونـو سره قـرارداد شـوې دي.دا مهـال یـې د تونـل پـه دننه برخه او ګالریـو کې ۸۰ سـلنه کار بشـپړ شـوي او تـاکل شـوې، چـې پـه نـږدې راتلونکـې کـې بـه یـې پاتـې چـارې هـم بشـپړې او د دې لویـې پـروژې یـوه برخـه بـه ګټـې اخیسـتنې تـه وسـپارل شي.د سـالنګونو لویـې لارې پـه بیارغېـدو سره بـه د افغانسـتان سـوداګري او د افغانستان لـه لارې لـه مرکـزي آسیا څخـه سـویلي آسیا تـه د ترانزیـټ پـه کچـه کې د پـام وړ زیاتـوالي راشي او پـر دې لاره تلونکـو مسافرو تـه بـه پـه تـګ راتـګ کې ګڼې آسـانتیاوې هـم رامنځتـه شي.

### د افغانستان د کرېکټ...

لومـړي د تـوپ اچونـې پریکـړه وکړه.دافغانسـتان د کرکـټ بـورډ ویانـد، سـید نسـیم سـادات د هېـواد ورځپاڼـې خبریـال تـه پـه ځانګـړې مرکـه کې وویـل: پـه نړیـوال جام کـې افغـان اتلانـو وکـولای شـول چـې لومـړي دفاعـي اتـل انګلسـتان تـه مـاتې ورکـړي ، ورپسـې بلـې پیـاوړې لوبډلـې او د ۱۹۹۲ کال اتـل پاکسـتان تـه ماتې ورکـړې، او وړمه ورځ یـې د ۱۹۹۶ کال اتـل سریلانـکا تـه هـم سـتره ماتـې ورکړې.سـادات زیاتـه کـړه؛ د سریلانـکا لوبډلـې لـه خـوا د ۲۴۱ منـډو هدف وټاکل شـو، پـه ځـواب کـې دافغـان اتـلان لخـوا ابراهیـم ځـدران ۳۹، رحمـت شـاه ۶۲ منـډې وکـړې د دوي لـه سـوځېدو وروسـته لوبډلـمشر حشـمت اللـه شـهیدي ۵۸ او عظمـت اللـه ۷۳ منډې وکـړې او لوبـه یـې دافغانسـتان پـه بریـا پـاې تـه ورسـوله.نوموړي زیاته کـړه ،الحمدللـه دخوښـۍ ځـاې دي زمـوږ لوبډلـې پـه هـره برخـه کـې تـوپ اچونـه ،تـوپ وهنـه اوډګـر سـاتنه، دریـو اړو برخـو کـې ښـه لاسـته راوړنـه درلوده.همـدا شـان د لـوبي غـوره لوبغـاړي اوچټـک توپ اچوونکـي فضلحـق فاروقـي و چـې لـه ټولـو ښـه وځلیـده او وتوانیـده چـې د سـیالي لوبډلـې ځلـور وېکټې واخـلي او د لوبـې غـوره لوبغـاړي هـم شـواوپه همـدې ترتیـب د هغـه تـر څنـګ مجیـب الرحمـن دوه، راشـد خـان او عظمـت اللـه یـوه یـوه ویکټـه واخیسـته.افغان اتـلان پـه دې بریـا سره د نړیـوال جـام د جـدول لـه اووم ځایـه پنځـم مقـام تـه پورتـه شول.همداشـان نومـوړي زیاتـه کـړه، دافغانسـتان دکرکـټ لوبډلـه دنـړۍ سترو‌سـترو ټیمونـو ته مـاتې ورکـولای شي. پـه راتلونکې کـې بـه پـه دغـه جـام کـې هالنـډ، اسـترالیا اوجنـوبي افریقـا سره هـم ښـې لوبـې وکـړو اوبریـاوې بـه خپلـې کړو.افغانسـتان مـلي لوبډلـې پـه روان نړیـوال جـام کـې لـه شـپږو لوبـو درې ګټـلې لـه پاکسـتان، انګلسـتان او سریلانـکا خـو پر هند، بنګلـه دېـش او نیوزیلنډ یـې بایللې.د افغانسـتان بلـه لوبـه د جمعـې پـه ورځ پـه لکنهـو کـې لـه هالنـد سره ده.دافغانسـتان د کرکـټ بورډ رهبري همیشـه هـلې ځـلې کـوي ،دنړیـوال جـام دچمتـوالي لپـاره یـې هـم تېـرو ځـو میاشـتو کـې سریلانـکا، بنګلـه دېـش او پاکسـتان سره د یـو ورځنیـو لوبـو سـیریزونه ونیـول. او دهېـواد د کـورني کرکـټ لپـاره هـم ښـه کارونـه روان دې میدانونـو جوړشـوي، پـه ډېـرو ولایتونـو کـې اکیډمیانـې تر کار لانـدې دي. کورني سـیریزونه تـر سره کیـږي. نړیـوال او داخـلي روزونکـي مـو ورتـه اسـتخدام کـړي دي.دیـادوني وړ ده چې افغـان مـلي لوبډلې درې داسې لوبډلـې مـاتې کـړې چـې د نړیـوال جـام اتلولـۍ یـې ګټـلي دي . سـمیع اللـه مومنـد

### د افغانستان او ایران...

او د دې هوکـړه لیـک لاسـلیک کـول د سـوداګرۍ او صادراتـو د ښـه والي او د وارداتـو د پیاوړتیا پـه برخـه کـې مرسـته کـوي.د ایـران د سـوداګریز مرکـز د مدیـره پـلاوي مـشر حسـین آزري ویـلې؛ دواړه خـواوې پـه دې هوکـړه ورسـېدو، چې لـه یـوه داسې پـلاوي سره، چې پـه ایـران کـې لـه ټولـو سـتر تولیدي او سـکتوري شرکتونـه لري راشـو او هیلـه لـرو ،چې د دغـه هوکـړه لیک عملیـاتي او د دواړو خـواوو ترمنـځ د آسـانتیاوو د رامنځتـه کولـو او د ښـه بنسـټ د جوړولـو پـه موخـه عمـلي شي.

یـاد هوکـړه لیـک د کرنـې د وزیـر مولـوي عطـاء اللـه عمـري په شـتون کې، د افغانسـتان د کرنې او مالدارۍ خونـې رئیـس خـان محمـد فروتن او د ایـران د سـوداګریز مرکـز د مدیره پـلاوي رئیـس حسـین آزري ترمنـځ د ایران د سـوداګرۍ پـلاوي او د کرنې وزارت د متخصصینـو پـه ګـډون لاسـلیک شـو.

### یوځل بیا مو پر غزې...

تـه ننـوزې بلکـې وړمـه شـپه یـې پـه پنځـم ځـل هـم ځمکنـي یرغـل د فلسـطیني مجاهدینـو لـه کلـک مقاومـت سره لـه مخامـخ کېـدو وروسـته نـاکام شـوي او نیواکګـر ځواکونـه لـه درنـو تلفاتـو ګاللـو وروسـته تښـتیدلي دي.د حـماس اسـلامي غورځنـګ د پوځـي څانګې ویانـد «ابوعبیـده» د وړمـې شـپې د خونړیـو جګـړو پـه اړه رسـنیو تـه ویلي:صهیونیسـتي اشـغالګرو پوځیانـو هڅـه کولـه، چـې د غـزې ترانګـې لـه شـمالي سـیمو غـزې تـه داخـل شي؛ خـو لـه کلـک مقاومـت سره مـخ شـول. ۷ ټانکونـه او ۱۳ اکـمالاتي موټـر یـې تخریـب شـوي، چـې پـه پایلـه کې یـې شـل پوځیـان وژل شـوي او درې نـور یـې پـه داسـې حـال کـې ژونـدي نیـول شـوي چـې د تیښـتې هڅه یـې کوله. پـه ورتـه مهـال اسراییلي رسـنیو بیا خبر ورکـړي، چـې یـوه بې پیلوټـه الوتکـه یـې د سره سـمندر پـه اوږدو کې ویشـتل شـوې ده. چې د ویشـتلو مسـئولیت یـې د یمـن د حوثیانـو نظامـي څانګـې انصارالله پـه غـاړه اخیسـتې دی.د ویلـو ده چـې وړمـه شـپه د حـماس اسـلامي غورځنـګ د پوځـي څانګـې « القسـام» لـه خـوا د نیـول شـویو اسراییلي اتباعـو دیـوې ویډیـو لـه خپرولـو وروسـته د اسرائیلـو پـر لومـړي وزیـر «نتنیاهـو» فشـارونه مـخ پـر ډیرېـدو دي ترڅـو پـر غـزې ترانګه هوایـي او ځمکنـي عملیـات ودروي او فلسـیطنیانو سره د خبرو لـه لارې سـتونزه حـل او نیـول شـوي کسـان خوشـې کـړي.

### جبران خساره ملکیت های...

اسـتملاکی، بـه ارزش ۲۴۴ میلیـون افغانـی خـبر میدهد.انجنیـر محمـد حنیـف متیـن، رئیـس اسـتملاک شـاروالی کابـل در یـک نشسـت خبری که به هـدف جبران خساره بـرای ملکیتهـای اسـتملاکی پـروژه شـهرک ذاکریـن برګـزار شـده بـود ګفـت: (( بـرای تطبیـق پروژههـای عامالمنفعـه، پروسـه اسـتملاک یـک امـر لازمـی اسـت. اګـر تحـت ایـن پروسـه ملکیـت شـخصی کسـی تخریـب مـی شـود، زمیـن و سـاختمان اسـتملاک شـده جـبران خسـاره مـی شـود.))بهګفتۀ وی، کار اسـتملاک ده پـروژه دیګـر کـه شـامل اعـمار سرک ۱۵ وزیـر محمد اکـبر خـان - شـیرپور، سرک اتصالی خوشـحال خـان مینـه، سرک کوتـل خیرخانـه، سرک شـهرک امنیـت و یـک تعـداد سرکهـای دیګـر مـی باشـد، نیـز آغـاز شـده اسـت.در همیـن حال آن عـده کسـانیکه جبران خسـاره ملکیتهـای شـان را دریافـت کردهانـد، از شـاروالی کابـل ابـراز خرسـندی میکننـد.

عبدالله، باشـنده شـهرک ذاکرین در مـورد میګویـد: (( خانۀ ما در مسیر سرک قـرار داشـت و تخریـب شـد، امـا شـاروالی کابـل بـرای مـا قمیت زمیـن وخانـه را پرداخـت کـرد.))

ګل محمـد، دیګـر باشـنده شـهرک ذاکریـن نیـز از ایـن اقـدام شـاروالی کابـل خرسـند اسـت.او میګویـد: (( هرکـس مـی ګفـت کـه اګـر خانـه شـما تخریـب شـود، برایتـان جـبران خسـاره نمیشـود، امـا خـدا را شـکر کـه اینګونـه نشـد و امروز شـاروالی کابـل، حـق مـارا پرداخـت کـرد.)) بـر اسـاس معلومـات شـاروالی کابل، قـرار اسـت در آینـده نزدیـک کار اسـتملاک شـش پـروژه دیګـر نیـز در ایـن شـهر آغـاز شـود و بـرای کسـانیکه منـازل شـان بـا تطبیـق پروژههـا تخریـب میشـود، در یـک رونـد شـفاف جـبران خسـاره خواهـد شـد.

### فاریاب کې د مڼو په ...

یـو شـمېر بڼـوالان او د دې محصول پلورونکـي د مڼـو لـه حاصلاتـو څخـه خـوښ دي او لـه افغـان حکومـت څخه غوښـتنه کـوي، چې د دوی د محصولاتـو د ودې لپـاره د مناسـبو کورنیـو او بهرنیـو بازارونو، د اوبـو بندونـو او د سـړو خونـو جوړولـو تـه زیاتـه پاملرنـه وکـړي.

### راتلونکي ژمي کې...

ملاتـړي وو، خـو سـږکال د بودیجـې لـه کمـوالي سره مـخ یو او یـوازې ۱۰ میلیونـه اړمنـو افغانانـو تـه مرسـتې ورکـولی شـو.))خو د اقتصـادي چـارو کارپوهـان وایـي، نړیوالـو مرسـتندویه بنسـټونو لـه لـوري د مرسـتو کمښـت کولـی شي، اړمـن افغانـان د ژمـي پرمهـال لـه نـاوړه وضعیـت سره مـخ کـړي.د اقتصـادي چـارو شـنونکی نورالله عزیـز وایـي: (( د افغانسـتان اوسـني اقتصـادي وضعیـت اوسـنیو شرایطو کـې نړیوالـو مرسـتو تـه زیاتـه اړتیـا لـري کـه هغـه د (یو.اېن)پـه چـوکاټ کـې وي، کـه د هیوادونـو مسـتقیو مرسـتې وي او یـا هـم پـه نـورو برخـو کـې د بهرنیـو هیوادونـو پانګونـه وي، دا تـول د افغانسـتان پـه اقتصـادي وضعیـت بانـدې فـوق العـاده اغېـزې لـري.)) خـو د افغانسـتان حکومـت د ژمنیو او نـورو طبیعـي پېښـو پرمهـال لـه اړمنـو افغانانـو سره مرسـتې د نړیوالو مسـئولیت بـولي او زیاتوي، چـې نړیـوال باید لـه عامـو افغانانو سره خپلې مرسـتې لـه سیاست سره غوټـه نـه کـړي. د اقتصـاد وزارت مسـلکي معیـن عبداللطیـف نظـري وایـي: (( مـوږ لـه نړیوالـې ټولنـې او مرسـتندویو بنسـټونو غـواړو، چـې مرسـتې سـیاسي نـه کـړي او د افغانسـتان لـه خلکـو سره خپلـو مرسـتو تـه دوام ورکـړي، دا د نړیوالـې ټولنـې مسـئولیت دی.))د خـوړو نړیـوال پروګـرام دا خـبره پـه داسـې مهـال کـوي، چـې پـر ګڼـو ولایتونـو سربېـره یـوازې د هـرات ولایت پـه دوو زلزلـه ځپلو ولسـوالیو کـې خلـک پـه خیمـو کـې شـپې او ورځـې تېـروي او د ژونـد لومړنیـو اړتیـاوو تـه لاسرسي نـه لـري.

### ترکي شرکت په...

چـې تـازه یـې دهـرات لپـاره دبـادي برښـنا ابتدایـې سروې او تجربـوي کارونـه هـم پیـل کـړي او هڅـه کـوي ،چـې دنـورو بنسـتیزو پـروژو لپـاره هـم پانګـوني جلب او کارونـه پیـل کـړي. پـه همـدې حـال کـې دافغانسـتان داسـلامي امـارت دبهرنیـو چـاور وزیـر مولـوي امیـر خـان متقـي ټینـګار کـړی، چـې دښـه اقتصـادي چاپېریـال لـه رامنځتـه کېدو سره کوښـښ کـوي چـې پانګوالـو او تجارانـو تـه لا ډېـرې آسـانتیاوې برابـرې او افغانسـتان لـه سـیمې، پـه ځانګـړې ډول لـه ترکیـې سره تجارت زیـات او دځمکې له لارې نـوي سـوداګریز دهلیزونـه فعال او تقویـه کـړي. باخـتر

### پنج بند بزرګ...

ولسـوالیهای ایـن ولایـت میشـود. محمدامیـن جـان عمـری، والـی غزنـی، در هنـګام ګشـایش ایـن برنامههـا، بازسـازی و سـاخت بندهـای آب در ایـن ولایـت را، در رشـد کشـاورزی در غزنـی مؤثـر خوانـده و ګفتـه اسـت کـه امارت اسـلامی، متعهـد بـه مدیریـت آب در بخشـهای مختلف کشـور اسـت. در همیـن حـال، باشـندګان محل، از آغـاز ایـن برنامههـا اسـتقبال کـرده و تطبیـق آن را بـرای رشـد اقتصادی مـردم، مؤثـر دانسـته اند.بازسـازی بندهـای بـزرګ آب در غزنـی، از خواسـتهای اساسـی کشـاورزان و باغـداران در ایـن ولایـت اسـت کـه در سـالهای پسـین بـه دلیـل نبـود امنیـت، زمینهـی بازسـازی آنهـا فراهـم نبـود.

### میدان وردګو کې...

منځنـي ښـوونځي تـه ودانـۍ جـوړه او پـرون ګټـې اخیسـتنې تـه وسـپارل شـوه.دیادولایت دپوهنـې رئیـس محمدعثـمان حریـت دیـادې ودانـۍ پرانېسـتغونډې تـه وویـل: دغـه ښـوونځی لـس درسي خونـې، اداري خونـه او تشـنابونه لـري. دحریـت پـه وینـا: دیادښـوونځي ودانـۍ دشـپږو میاشـتو پـه تـرخ کـې د۵۵زره امریکایـي ډالـرو پـه مـالي لګښـت جـوړه شـوې او سـلګونه زدهکوونکـو تـه دلیکلوسـت خونـدي چاپېریـال برابـر شـوی دی.دجغتـو ولسـوالۍ اوسـېدونکي هـم خـوښ دې چـې پـه دغـې ولسـوالۍ کـې منځنـي ښـوونځي تـه ودانـۍ جـوړه شـوه. دوی ټینـګار کـوي چـې دپوهنـې وزارت بایدمیدانوردګـو کـې هغـو ښـوونځیو تـه ودانـۍ جـوړې کـړي چـې اوس مهـال یـې زده کوونکي له پراخـو سـتونزو سره تر شـنه اسـمان لانــدې پـه لیکلوسـت بوخـت دي.

### د غزني ناوې ...

یـادې ولسـوالۍ تـه داداري ودانـۍ دجوړېـدو چـارې پـرون ددې ولایـت دمحـلي چارواکـو لـه لـوري پرانیسـتل شـوې.دغزني والي محمدامـین جـان عمـري دیـادې پـروژې دپرانېسـتې پـر مهـال وویـل، چـې دغـه اداري ودانـۍ بـه پـه دربـو پوړونـو کې ورغول شي او ۳۵ کوټـې بـه ولري.دنومـوړي په وینـا: ددې اداري ودانـۍ درغېـدو ټولیـز لګښـت ۲۰ میلیونـه افغانـۍ اټـکل شـوی، چـې دکورنیـو چارو وزارت لـه پراختیایـي بودیجـې بـه ورکـړل شي.بلـه خـوا دناوې ولسـوالي اوسـېدونکي وایـي، چـې دغـه ولسـوالي دتېـرو دوو لسـیزو پـر مهـال دپوهنـې، روغتیـا او حکومتولـۍ اړونـدو خدمتونـو څخـه بېبرخـې وه.دوی لـه حکومته غوښـتنه کـوي چې یـادې ولسـوالۍ کـې دې دبیارغونـې او رغنیـزو پـروژو چـارې پراخـې او ګړنـدۍ کـړي.

### له تورخم څخه د ریاست الوزراء...

مدیریـت کـړل شي. بایـد یادونـه وکـړو، چـې د عـالي کمیسـیون ټولې کمیټـې د خپلـو چـارو د تنظیـم او تکمیـل پـه حـال کـې دي او هیله ده چـې ډیـر ژر بـه د ټـول هیـواد پـه کچـه پـه ټولـو برخـو کـې خپـل خدمـات پیـل کـړي.

### د افغان مهاجرینو...

د مهاجرینـو سـتونزو تـه د رسـیدو عـالي کمیسـیون سره پـه هماهنګي د هغـوی پـه انتقـال، اسـکان، سرپنـا، درملنـې او نـورو اړونـدو برخـو کـې مرسـته وکـړي او هغـوی هیـر نـه کـړي.

٦ــ داچـې د اسـلامي امـارت لـه بشـپړ حاکمیـت وروسـته پـه هېـواد کـې اسـلامي نظـام، سرتـاسري امنیـت، واحـده رهـبري او د افغانانـو ترمنـځ د ورورۍ فضـا ایجـاد شـوې، د ټولـو راسـتنیدونکو مهاجرینـو پـه اړه د اسـلامي امـارت مسـئولینو تـه حکـم شـوی چـې په ډیـر اخـلاص او توجـه سره د خپلـو مهاجرینـو پـه خدمـت کـې هلـې ځلـې وکـړي او کوښـښ دي وکـړي چـې د خپلـو امکاناتـو پـه چوکاټ کـې د راسـتنیدونکو مهاجرینو ښـه خدمـت وشي.

۷ـ د تجـارت او صنعـت وزارت او نـور اړونـده وزارتونـه او اداري دې راسـتنیدونکو سـوداګرو، پانګوالـو او صنعتکارانـو تـه لازمې اسـانتیاوې برابـرې کـړي.

۸ - هغـو هیوادوالـو تـه چـې د سـیاسي تشویشـونو لـه املـه لـه هیـواده وتـلي، ډاډ ورکـوو چـې بیرتـه راسـتانه او پـه خپـل هیـواد کـې آرام ژونـد وکـړي.

اللـه تعالـی دي د اسـلامي امـارت مسـئولینو او ټولـو افغانانـو تـه توفیـق ورکـړي چـې د مهاجرینـو لپـاره اسـانتیاوې برابـرې او خدمـت یـې وکـړي. آمیـن یـا رب العلمیـن.
د افغانستان اسلامي امارت
۱۴۴۵/۴/۱۶هـ ق
۱۴۰۲/۸/۹هـ ش - ۳۱/۱۰/۲۰۲۳ م

# Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس : م محمد ابراهیم نبیل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷٤۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: ۰۲۰-۲۵۲٦۳۱۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې ویب سایټ له لارې هم کتلی شئ
ویب سایت: www.hewaddaily.com
د شکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰٦۹

چهارشنبه د ربیع الثاني ۱۷ مه ۱٤٤٥ ق کال د ۱٤۰۲ ل کال د لړم ۱۰ مه د 2023 م کال د نوامبر لومړی


## حماس: صهیونیستي اشغالګر د جګړې له پیله تر اوسه کومه نظامي بریا نه لري



د حماس اسلامي غورځنګ یو لوړ پوړي مشر «غازي حمد» په خپلو تازه څرګندونو کې ویلي، چې صهیونیستي اشغالګر د جګړې له پیله تر اوسه کومه نظامي بریا نه لري. خو د غزې په تړانګه کې هر وخت او هر ځای پر ولسي وګړو بریدونه دوام لري او د وژلو شمېرې ورځ تر بلې په لوړېدو دي. د غازي حمد په خبره: له کومې ورځې چې یرغل پیل شوي، تر اوسه پکې زرګونه ماشومان، ښځې او ځوانان... ۷مخ

## افغان ځوانانو د افغانستان غوره تصویر نړۍ ته وړاندې کړ

دریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر دکرېکټ نړیوال جام کې دافغان لوبډلې دپرله پسې درېیمې بریا مبارکي هیوادوالو ته ویلې ده. ده ویلي، چې سپورټ دیوروالي او په نړیوال دریځ دافغانانو دوړتیاوو ښودلو غوره وسیله ده او افغان ځوانانو په بېلا بېلو برخو کې په نړیوال دریځ دافغانستان غوره تصویر ننداري ته وړاندې کړی دی. ده هیله ښودلې ،چې افغان لوبغاړي په راتلونکو سیالیو کې هم ښه وځلېږي او دافغانستان لپاره ویاړونه ترلاسه کړي. دیادوني وړ ده چې دافغانستان دکرېکټ ملي لوبډلې دنړیوال جام سیالیو کې درې لوبې ګټلې او درې یې بایللې دي. باختر

## د افغانستان د کرېکټ ملي لوبډلې په نړیوال جام کې درېیمه ستره بریا خپله کړه



دافغانستان کرکټ ملي لوبډلې د یو ورځنیو لوبو کرکټ نړیوال جام په لړ کې له انګلستان او پاکستان وروسته سریلانکا ته هم ستره ماتې ورکړه. لوبه ورمه ورځ د هند په پونې ښار کې وشوه، چې د لوبې پچه افغانستان وګټله او د خپلې لوبډلې لپاره یې.... ۷مخ

## ترکي شرکت په هرات کې د بادي برښنا د لومړنۍ سروې کارونه پیل کړي



داسلامي امارت دبهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي په ترکیه کې دیادهیوادد۷۷ شرکت له مشر او دافغان - ترک دسوداګرۍ شورا له رئیس سلیمان جلیف سره کتلي دي.په دې کتنه کې ښاغلي جلیف ویلي ،چې دښه امنیت او خوندي اقتصادي چاپېریال له برکته یې شرکت توانیدلی چې دکجکي بنددبرښنا دتولیدداول فاز کارونه په بریالیتوب سره ترسره کړي. ده ویلي ، ۷مخ

## ملاعبدالغني برادر اخند د سالنګونو د کار له جریان څخه لیدنه وکړه



دریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند ورمه ورځ د سالنګونو لویې لارې د بیارغونې له کارونو لیدنه وکړه.دې سفر پر مهال د ریاست الوزراء له اقتصادي مرستیال سره د ټولګټو وزارت سرپرست ملا محمد عیسي ثاني هم ملتیا کوله.ده د سالنګونو لویې لارې د قراردادي شرکتونو له مسئولینو سره لیدلي او د هغوی له لورې د ترسره شوو کارونو ستاینه یې کړې ده.ملا عبدالغني برادر اخوند هغوی ته د سالنګونو لویې لارې د پاتې چارو د چټکتیا، غوره کیفیت او پر وخت د بشپړولو په اړه اړینې لارښوونې کړې دي .سالنګونو لویه لاره د افغانستان له تولو مهمه سوداګریزه او ترانزیتي لاره ده، چې اوسمهال یې د ۸۰ کیلومترهسړک ۷مخ

## القسام:

### یوځل بیا موپر غزې ترانګې داسرائیلي اشغالګرو ځمکني بریدونه پر شا تمبولي

په داسې حال کې، چې پر غزې ترانګې د اسراییلي اشغالګرو وحشیانه بمبارۍ لا هم رواني دي او د تازه راپورونو له مخې په تېرو دریو اوونیو کې د ښځو او ماشومان په ګډون له ۸۰۰۰ ډېر بې دفاع فلسطینیان شهیدان شوي او لسګونه زره نور ټپیان شوي دي؛ خو لا هم صهیونیستي اشغالګر په دې نه توانیدلي چې غزې ترانګې ۵مخ

## د افغانستان او ایران ترمنځ د دوه اړخیزو همکاریو هوکړه لاسلیک شوه



د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت ویلي، د دې هوکړه‌لیک د لاسلیکولو موخه په افغانستان کې د کرنیزو محصولاتو د صادراتو او وارداتو او پانګونې په برخه کې د سوداګریزو آسانتیاوو رامنځته کول دي، چې ایراني پانګوال هم ورته لېوال دي.مولوي عطاء الله عمري ویلي، د کرنې او مالدارۍ په سکتور کې د دوه اړخیزو همکاریو ملاتړ کوو او په دې برخه کې ستاسو همکار یو.سرپرست وزیر زیاته کړې، موږ د کرنې په بېلابېلو برخو کې غوره حاصلات لرو، دغه هوکړه‌لیک موږ ته هیله راکوي، چې. دغه خوراکي سرچینې تاسو ته وړاندې کړو او دا به زموږ د صادراتو او وارداتو په برخه کې اغېزمن تمام شي.د افغانستان د کرنې او مالدارۍ خونې رئیس خان محمد فروتن ویلي؛ اداري فساد له منځه وړل شوی، له خصوصي سکتور سره په ګډه ګامونو پورته کولو سره ځان بسیاینې ته نږدې کېږو ۷مخ

## جبران خساره ملکیت‌های استملاکی از سوی امارت اسلامی



مسئولین شاروالی کابل می گویند، که امارت اسلامی ۳۲۸ خانه را در این شهر استملاک کرده و برای مالکان آن به ارزش ۲٤٤ میلیون افغانی جبران خساره کرده است. به گفتهٔ آنان، برخی از خانه‌ها به خاطر عملی شدن پروژه‌های عام‌المنفعه استملاک می‌شود و جبران خساره برای مالکان نیز بگونه شفاف صورت می گیرد.
هرچند شماری از شهروندان با استملاک شدن خانه‌های شان از عدم جبران خساره از سوی حکومت نگرانی دارند، اما شاروالی کابل از جبران خساره برای مالکان ۳۲۸ خانه .... ص۷

## فاریاب کې د منو په حاصلاتو کې زیاتوالی راغلی

د فاریاب ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسئولین په یاد ولایت کې د منو په حاصلاتو کې د ۵۰ سلنه زیاتوالي خبر ورکوي. د فاریاب د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست د کرنیزو چارو آمر نورالهدا متوکل وویل، چې په یاد ولایت کې د منو حاصلات د تېرکال په پرتله ۵۰ سلنه زیات شوي دي. د نوموړي په خبره د منو د حاصلاتو د زیاتېدو لامل د کروندګرو ستونزو ته پاملرنه او هغوی ته د کرنیزو درملو وېش بلل شوي دي. له بلې خوا د یاد ولایت... ۷مخ

## د ایران ولسمشر: اسرائیل له سرې کرښې تېر شوي



د ایران ولسمشر ډاکټر سید ابراهیم رئیسي وایي: اسرائیلي اشغالګر له فلسطین سره په شخړه کې له ((سرې کرښې)) تېر شوي، چې هر ځوک کولای شي اقدام وکړي.د صهیونیست رژیم جنایتونه له سرې کرښې تېر شوی ، چې هر څوک د مقابلې لپاره مجبوروي. ((واشنګټن له موږ څخه غواړي چې څه ونه کړو، خو دوی د اسرائیلو پراخ ملاتړ ته دوام ورکوي.)) رئیسي له دې مخکې له الجزیرې عرب سره په خبرو کې ویلي و، چې ایران به د غزې ترانګې په شاوخوا حالاتو کې د تهران د مداخلې په اړه د امریکا خبرداریو ته غاړه نه ږدي.

دبلیو.ایف.پي:

## راتلونکي ژمي کې ۱۰ میلیونو افغانانو ته مرستې وېشو

د ژمي له رانږدې کېدو او مرستو ته د افغانانو د اړتیا له زیاتېدو سره د خوړو نړیوال پروګرام ( ډبلیو.ایف.پي) د خپلو مرستو د محدودولو خبر ورکړی دی.د خوړو نړیوال پروګرام ویلي، د ٦۰ سلنه بودیجې د کموالي له امله نه شي کولی ټولو اړمنو افغانانو ته اړینې مرستې ورسوي.د یاد پروګرام په خبره، په داسې حال کې چې په تېر ۲۰۲۲ م کال کې یې ۲۳ میلیونه افغانانو ته ژمنۍ او نورې اړینې مرستې وېشلې، خو د بودیجې کمبود له امله اړ دي، څو له دې ډلې ۱۳ میلیونه اړمن افغانان د مرستو د ترلاسه کولو له سیستمه وباسي.یاد پروګرام زیاته کړې: (( تېرکال مو ۲۳ میلیونه اړمن افغانان د خوړو نړیوال پروګرام له مرستو برخمن کړي وو. استرالیا ، انګلستان، چین، کویټ او فنلډ یې مالي... ۷مخ



## پاکستان کې د افغان ماشومانو یو شمېر ښوونځي وتړل شول

په پاکستان کې د افغان ماشومانو لپاره یو شمېر ښوونځي ورمه ورځ په داسې حال کې وتړل شول ،چې کورنۍ یې له پاکستان څخه د شړل کېدو له ګواښ سره مخ دي. اسلام آباد د هغو ۷، ۱ یو اعشاریه اووه میلیونو افغانانو د نیولو عملیات پیل کړي ،چې وایي په پاکستان کې په ناقانونه توګه ژوند کوي. پاکستان دغو افغانانو ته خبرداری ورکړی که ترتاکلي وخته په خپله خوښه له دغه هېواد څخه و نه وځي، نو په زور به وشړل شي. یو سرښوونکی د خپل نوم د نه ښودلو په شرط فرانس پرس خبري اژانس ته ویلي: په اسلام آباد او ورڅېرمه ښار راولپنډۍ کې پنځه ښوونځي تړل شوي. ښوونکو وویل ،چې د ښوونځیو له تړل کېدو وړاندې، د پولیسو له ویرې، چې بې اسنادو او همدارنګه د کډوالۍ قانوني سند لرونکي افغانان نیسي، زده کوونکي ویرېدلي وو او له خپلو کورونو نه وتل، چې له امله یې په ښوونځیو کې د حاضرۍ کچه ۷۵ سلنه کمه شوې وه.